# دافغانستان آینده غورځنګ کړنلار

## (مرامنــــــــــامه)

## لومړی – سریزه

۱ــ په افغانستان کې د دودیز کیڼ اړخ تیرمهال

په افغانستان کې د لومړني مشروطه غوښتونکي سازمان له بنسټ ایښوونې څخه کابو یوه پیړۍ تیرېږي. هغه سازمان دټولنې درښتینې (عیني) اکر په پام سره خپل موخیز آرونه (مرامی اصول) وټاکل چې دخپلځواکي شاهي نظام را پرځول او دهېواد دخپلواکۍ بیا ترلاسه کول یې بنیادي موخې ټاکل شوې وې. دافغاني روښاندانولومړنۍ هغه پرله غښتی (منسجم) خوځښت د زورواکانو له خوا په وینو لژند شو. تر هغې ترخې تجربې وروسته افغاني پرمختللو(مترقي) او پوهو روښاندو به د هغوپرګنو، پر حقه غوښتنې یې په پر له پیلې توګه په ګوته کولې چې په نالوستی، لوږه او دمنځنیو پیړیو په زړو اړیکو کې ساتل شوي وې. په دې لړکې یې دبدلونپالو سازمانونو په جوړولو لاس پورې کول چې دتاریخ له زورواکتون څخه یې دافغاني ټولنې را اېستنې ته دخپلومبارزو دمنځپانګې په زړه کې ځای ورکړی وو، لکه واخلې: دویم مشروطیت ،جوانان افغان، حزب آزادی خواهان ، ویښ ځلمیان، جمعیت وطن، ندای خلق او اتحادیهء محصلان چې رغنده هاندې هڅې یې دتل لپاره دافغان ولس دحق غوښتنې تاریخ په پاڼوکې کښل شوې دي .

څلورلسیزې وړاندې، دافغانستان کیڼ اړخو بنیادي غورځنګونو په ځانګړې توګه دخلک دېموکراتیک بهیر(جریان) او ((جریان دموکراتیک نوین)) دلومړی ځل لپاره دافغاني ټولنې دوروسته پاتوالي بنسټیزې ربړې( مسئلې) دعلمي ټولنپوهنې له لید لوریو رامخته کړې . د هغو ورځو انقلابیانودکارګري پاړکي درسمي ایډیالوژۍ ــ ددواړولیکو: (شوروي لیکه او چیني لیکه) ــ پرلیدلوریو دټولنیز ژوند بنسټیز اړیپچونه (تضادونه) په ګوته کړل او دټولنې انقلابي اوړون یې دخپلو تاریخي دندو په څېر وړاندې کړ. په ټولیز ډول، دافغانستان ددېموکراتیک ګوند له خوا یو وړاندیز ددې انقلابي اوښتون دپلي کېدو لپاره وده وکړه چې د درېیم انټر ناسیونال دزړو لارښوونو اودنړۍ دکمونېستي او کارګري ګوندونو دکنفرانسونو له څرګندونوڅخه یې په الهام سره دانقلابي ځواکونو دېراخې جبهې دجوړولواو دناپانګوالې ودې لارې په غوراوي، دملي دېموکراتیک انقلاب ترسره کول ول. هرګوره، داسې یوې جبهې په افغانستان کې څه وده ونه کړه. یوازې یوځل یې د داود ددېلواکۍ(مونارشۍ) پر مهال یوه رښتینې پیلامه راښکاره شوه خو وړاندې شوي آړونه (شرطونه) یې هیڅ یوې خوا ته هم دمنلو وړ نه ول.

دافغانستان دخلکودېموکراتیک ګونددجوړېدوپه درشل کې،په افغاني ټولنه کې پرافغاني جوړښت (فورم) د ځمکواکۍ (فیوډالی) او مخځمکواکۍ ( ماقبل فیوډالی) زیږ ( تولیدي) ډولونه واکمن ول او دې ډولونو دمنځنیو پیړیو واکمنو اېډیالوژیو سمبالو ټولنوټیزو(اقتصادي – اجتماعي) اړیکو په تړاوسره ، افغاني ټولنه دهغه ورځو تر ټولو وروسته پاتې ټولنو په شمېر کې درولې وه. د دولتي رغاوې( صنعت) دوَدې کچه تر دې بریده نه وه چې دکارګر پاړکي دجوړېدو لامل شي. دکارګر پاړ کي نشتوالی، ملي بورژوازۍ او(داېمپریالېزم دګټو په تړاو ) پیېلي بورژوازي،دا ټول دشوروي اتحاد افغانستان پوهانو او دافغانستان دخلکو دېموکراتیک ګوند په مشرتابه کې دواکمن اند (تفکر )

ذهني جوړښتونه وو چې په دې توګه دناپانګوالي ودې لارې لپاره دمنلو وَړخرګندونې په لاس کې ولرلای شي ، چې په رښتینه توګه له رښتیاوو (واقعیتونو ) سره دتیوری اړیکي له همدې ځایه پر بل مخ شول .نورنوتیوري دربنتیاووړاند پیژندنه، نه، چې یوه اړولې(مسخ شده ) رښتیا(واقعیت) ووچې تیورۍ سره جوړښت وموميي.

دافغانستان دخلکو دېموکراتیک ګوند له لومړۍ کنګرې (۱۹۶۵ دجنورۍ لومړۍ) څخه د ۱۳۵۷ کال دغویي تر اوومي، دافغانستان دټولنیز ژوند په ډېرو پراخوبرخو کې د اوړونپال، نوښتګر اومخکښ سازمان په توګه وپیژندل شو. دبېوزلیو، بې نیاو یو (بېعدالتیو)، دافغاني ټولنې هېښنده وروسته پاتوالی ،دخانخاني اړیکواو دکروندګرو اوزیارایستونکودبېلوره زبېښاک ډاګیزول،دنویو سیاسي، ټولنیزو اوفرهنګي نواندیز و مبارزو رادودول ،په ټولنیز ژوند کې دمېرمنو دغوره دریځ دټاکنې وړاندیز، دربنتینې دېموکراسۍ اووینااازادۍ په لاره کې جګړه، دملي ربړې (مسئلې) دهواري لار او دژبنو کمیزو ډلو ټپلو دبرابرۍ شعار وړاندې کول، دافغانستان دخلکو دېموکراتیک ګوند له سترو لیدوړو تاریخي کارونو څخه دي. دپاړکیز (طبقاتي) رغښتي او اورګانیکو اړیکو او خپلمنځي جوړښت دځانګړتیاوو نشتوالی، دافغانستان دخلکو دېموکراتیک ګوند دژوند رغاونیزو نیمګړتیاوو دپیژندنې غوټه پرانېزي: خپل ګورتی منځیوالی (مطلقه مرکزیت)، دګوندمنځي دېموکراسۍ نشتوالی، ډلپالنه، سمت پالنه، ژبپالنه، توکم پالنه، په ټولنوتیزوبرخو کې کورني او علمي څېړنو ته نه پاملرنه او یوازې پر بهرنیو (شوروي اوتوده یي) آثارو ډډه لګونه او داسې نور.

کېن غورځنګ، د ظالمانه ځمکواکي ـ نر واکي اړیکوله ولکې دافغانستان دښځو ژغورون دافغاني ټولنې دمرکزي بنستیزبدلون په توګه وړاندې کړ. دمېرمنو دغوښتنو استازندویه سازمانونو، لکه د افغانستان د ښځو سازمان په ټولنیز ،سیاسي اوکلتوري چاروکې دمېرمنو دګډون لپاره دهېواد دمخکښومېرمنو په راغونډولوکې ارزښتناک رول لوبولی دی.

دافغانستان دخلکو دېموکراتیک ګوند له سیاسي واک راخپلولو سره سم له سمونې، ددولت په اډانه کې ډوب او ویلې شو چې په پایله کې دلومړي ځل لپاره دافغانستان په تاریخ کې « د افغانستان دېموکراتیک ګوند ـ دولت» د یو ناپیژندل شوي جوړښت په توګه رامنځته شو. چې ددې جوړښت ړنګېدل د همدغه ګوند دجولیز(فورمالېستي) شتون سملاسي پای هم وو.

په افغاني ټولنه کې دځواک دکړن (عمل) میکانېزم دافغانستان دخلکودېموکراتیک ګوند تر ځواکمن کېدو پورې له دوو توکیو(عنصرو) جوړ شوی وو:

۱- څنګیز (اطرافي ) ځواک (ځمکواکانو ، ټبرني مشرانو او د دودیزې واکمنې ایدیالوژۍ د پلویانو په واک کې )؛
۲- مرکزيځواک (داشرافیت او ورپورې تړلې میرزاییوالې یا بیروکراسۍ د پلویانو په واک کې).

دافغانستان دخلکو دېموکراتیک ګوند ته دځواک له لېږدسره ،څنګیز ځواک خپل مرکزي تړاوځای (پیوستګاه ) له لاسه ورکړه. پانګواکۍ(امپریالیزم) او دسیمې ځانساتو(محافظه کارو) ځواکونو چې له یوې لسیزې راهیسې دافغانستان دپېښو کلک څارو ول، دڅور پېښه یې په سیمه کې دخپلو ګټو په لارکې یوه بوږنوړې پېښه وګڼله اوویې غوښتل چې دیو سازمان شوي پوځي ـ سیاسي اپوزیسیون

په توګه ځنګیز ځواک دمرکزی ځواک پر وړاندې ودروي چې نور نود شوروي اتحاد دګټواو اغېز لېښونی (محمل ) بلل کیده. په دې ډول دغویي (ثور) اوښتون پر وړاندې د دین ، هېواد اوافغاني دودونو جالونو(دستورونو) د دفاع په پلمه تر وګړغولوونکو شعارونو لاندې یو شاتګپال (ارتجاعي) وسله وال ټیګاو (مقاومت) را منځته شو. له بهر نه سازمان ورکړ شوی جهاد، دټولوافغاني شاتګپالو ځواکونواو ځینونورونویو دېموکراسي پلوو ډلو ټپلو پنډغالی وګرځېداو نړیوال اېمپریالېزم، عربي اوسیمه ییزه شاتګواله (ارتجاع) د منځګړو په توګه رامیدان ته شول .

افغانستان ته دشوروي اتحاد دځواکونو له ننوتلو سره کورنۍ شخړې لویه نړیواله کچه پیداکړه. کورګډې جګړه او د هېواد په چاروکې دزبر ځواکونولاسوهنه ، دګوند ـ دولت دمشرتابه ناسکینډې (جبران نه منونکې) تېروتنې او بېلاریو (انحرافونو) دګوند ـ دولت د پرمختللیو برنامو دپلې کېدولمن راونغښتله. ددېموکراتیک لاربشود پلاوی په ټولیزه همغږۍ ګوند ـ دولت دشوروی سیاستونو پر لامل ( عامل) بدل شواو خپل افغاني ملي او خپلواک وکر(هویت) یې له منځه ولاړ. دېموکراتیک ګوند ـ دولت دجها د ـ امپریالېزم اودسیمې دارتجاع (په ځانګړې توګه پاکستان، ایران او عربي هېوادونه) دیرغل، جهادي سازمانونو ته دځینو ګوندي - دولتي مشرانواو کارندویانو (کادرونو) معامله ګرانه پیوستون او دجهاد ـ امپریالیزم له خوا دهغوی دګومارل شویو ورانکاریو په پایله کې ونړید او دمجاهدینود لومړي پېر اړودوړ (انارشي) په دویم غویي (ثور) کې پیل شوه، له دې سره هغه بریاله یا دریځه ګیچې کېدای شوه، دهغې له لارې دمنځنیو پیړیو ټولنوتیز اړیکي د زیارکښانو په ګټه پر بل مخ واړول شي، تر ډیرمهاله وتړل شوه. جهادي واکمني او وروسته طالبي ډلواکي(اولیګارشي)،دافغانستان خلکو اوافغاني کینو ځواکونو ته یو تور پېرګنډل کېږي .

**٢ ـ دافغاني کینې غورځنګ نوي کول**

دافغانستان آینده غورځنګ د ١٣٧٩ کال د وري میاشتې په ٢٦ (٢٠٠٠ کال داپریل په ١٥) په داسې اړونو کې بنسټ کېښوول شو چې دهېواد دېموکراتیک غورځنګ له ترخې سیاسي ماتې سره مخامخ شوی وواو دنړۍ پر کچ «د دولتي سوسیالېزم پنډغالي (اردوګاه )» او کارګري نړیوال غورځنګ خپل ځایونه له لاسه ورکړي او «طالبي اولیګارشي» پر هېوادواکمنه وه. په داسې اکرکې دافغانستان آینده غورځنګ، دیوې رښتینې مبارزې دبیاله سره پیلولو لپاره ټولیزې او ولسواکي موخې اودندې ځانته په ګوته کړې او دپرشاتګې (ارتجاعي) زورواکۍ پر وړاندې یې د دربېدولپاره، افغاني دېموکرات اوکینې اړخې جنګیالي دیوې پراخې سیاسي ـ ټولنیز ـ کولتوري جبهې «دافغانستان آینده غورځنګ» دجوړولو خواته راوهڅول. تر نیاومنې او دېموکراتیکې مبارزې بیاپیلونه («ازسرګیری مبارزه دادخواهانه ودېمو کراتیک») پېژندل شوي شعار لاندې، په افغاني کینې غورځنګ کې یوه لسیزه چوپتیا ماته کړه او دنوي پرمختللي ځواک دراپیدا کېدو زیری یې وکړ. دغه نوی ځواک په زړورتیا سره دغورځنګ دتېر وخت پر سپړنه شننه لګیا شو، بریاوې یې ور وشمېرلې اوپر نیمګړتیاویې دنیوکې ګوته کېښووه، راتلونکې یې نه دیوه خیالي ارمان په توګه، چې ګوندې له «انقلاب سپېده داغ» سره به پیل شي او یو اړخیز اوپرله پسې به بې زبېښاکه اوبې پاړکې ټولنې پر لوري درومي، بلکې دکېدونیو رښتیاووپه توګه چې دټولنې دنن ورځې پر پروژه جوړه شوې ومانه. دافغانستان آینده غورځنګ یوه پر ټولنیز نیاو سمباله ټولنه دیوه تاریخي کېدون (امکان) په توګه په ګوته کړ. داسې یو کېدون چې یوازې په سیاسي ، ټولنوتیز، اندیز او فرهنګي برخو کې د مظلومو اوزیارکښو پرګنو په پراخ ګډون ترسره کېدای شي .

دافغانستان آینده غورځنګ ، له ایډیالوژۍ سره دوګماتیک چلند له بېخ و بنسټه تر نیوکو لاندې ونیو او اندیز نویوالی یې ددېموکراتیک غورځنګ دنویوالي دسرلیک په توګه وړاندې کړ.

دافغانستان آینده غورځنګ دخپل اوه کلن اندیز کارندویي په ترڅ کې ، په ځانګړي توګه د « آینده» خپروني اووبپاڼې په خپرولویې وشوکړای چې دهېواد پرمختللي کینې غورځنګ کې اندیز ، سیاسي او فرهنګی نوې فضا رامنځته کړي. دافغانستان آینده غورځنګ داوه کلن پرله پیپلې هڅ وهاند په پیلامه ، دافغانستان دټولیز سیاسي – ټولنیز غورځنګ په نوي کولو کې خپل ځواکمني زباد کړ او دادی خپلې دندې دنړۍ او افغانستان داوسنیو ربښتیاوو په ټړاو په نبښه کوي .

په اوسني اکر کې، دافغاني دېموکراتیک او ملي ټولیز خوځښت په منځ کې ، کلک پوله پالۍ (مرزبندیهای جدی) دجوړېدو په درشل کې دي. دافغانستان آینده غورځنګ هڅه کوي چې دهېواد کینې ځواک پیاوړی او یو موټی کړي ، په ټولنه کې یې دلاربښووني ظرفیت ټینګ کړي او دربښتپالو دېموکراتو جنګیالیو پراخې لیکې په خپل اډانه کې ګډ کړي.

دهېواد اوسني بوړنونکي اکر څخه دوتلو یوازېنی لار دیو دېموکراتیک بلونج پلي کېدل دي. مګردمنځنیو پېړیو دارتجاع اونوی ارتجاع له خوا دسیاسي اکر راخپلول ددې بلونج دبریالیتوب مخه ډپ کړی دی. دهمدې ربښتیاوو پر بنسټ دی چې دافغانستان آینده غورځنګ په سیاسي اکر کې د اوړونپال دېموکراتیک غورځنګ په رامنځته کېدو کې هڅاند دی چې دټولنې زیارکښانو پورې تړلی یو لوی سازمان دجوړېدو آندیزې غوره آړونه رامنځته کړي. غورځنګ به په هر یو داسې خوځښت کې چې دټولنې دزیار کښ اومظلوم انسان په ګټه ، دکینو ځواکونو پیاوړتیا ، دربښتینې دېموکراسۍ ټینګښت او دملی واکمنی ، خپلواکۍاوځمکنۍ بشپړتیا په ګټه وي په پازواله او پرله پیپلې ټوګه ګډون وکړي.

دافغانستان آینده غورځنګ دمیلیونونو افغانانودلوړځپلي اوسنی غملړی اکر ، دانسان او انسانیت لوړ مقام ته سپکاوی بولي ، او په مېړانه ددې اکر څخه د وتلو په موخه په سیاسي عمل لاس پورې کوي.

هغه دندې اوموخې چې په دې کړنلار کې ځلاندې دي په یو پراخ سازمان کې دافغاني پوهانو او پرمختللوسیاسي ځواکونو هملوري کولو پروړاندې یو نوی سترګ ارت پرانیزي ، او دغورځنګ دسازماني پراختیا زمینه برابروی ، ددغو موخوپه پلي کېدو کې برخه اخستل ، دهر یو صادق، پوه او دزیارکښو پرګنو دګټود لاروَیو جنګیالانو دنده ده.

## دويم – اوسنی اکر (وضع )

### ۱ ـ په هېواد کې

الف ـ سياسي ـ امنيتي اکر :

هېواد په يوه کرغېړن ( مزمن) او ټول اړخيز کړکېچ کې راښکېل شوی دی ، دهېواد سياسي ـ امنيتي اکر ورځ پر ورځ د ويجاړۍ خواته درومي ،جګړه او ناامني دهېواد په بېلا بېلو برخو، په تيره بيا په سوېلي او ختيزو سيموکې لاپسې پراختيا مومي، طالب ځواکونه له بهر ،په تېره له پاکستان څخه دپرله پسې لاس وهنو، ددولت داداري ناخوالو او په افغانستان کې د مېشتو بهرنيو ځواکونو له خوا ديوه بربنډ اوروښان سياست دنشتوالي له کبله په جنګي او تبليغاتي ډګرونو کې لا پياوړي کېږي.

د واکمنی دننه دلا زيات ځواک او ګټو دترلاسه کولو پر سر دبېلابېلو اړخونو تر منځ سيالي سختوالی مومي او دغه کار بې ټيکاوي لاپراخوي، دبهرنيو ځواکونو ترهګري کړه وړه خلک نور هم پسې خوابدي کوي او د بې ټيکاوۍ او کړکېچ دپراخوالي لامل کېږي. دمرکزی دولت دکمزورتيا او ناغېړتيا له کبله دهېواد په ګوټ ګوټ کې تر اوسه هم جهادي پاټېشوني دبې سياله ځواکونو په توګه پر ډګر پاتې دي. ددرو وروستيو لسيزو دجګړو له لامله دهېواد ټولنوټيز (اجتماعي ـ اقتصادي) جوړښت را بدل شوی دی، ددوديزې شاتګوالې تر څنګ يو نوی پوړ (قشر) چې له جهادي ډلو ټپلوبولندويانو ( قوماندانانو)، دنشه يي توکيو له مافيا او انجو ګانو سره له تړلو بيروکراتانو څخه جوړشوی، دهېواد په سياسي او اقتصادي ډګرونو کې سر را پورته کړی دی. دغه پوړ پردې سربېره چې د ټولنې ډېرۍ برخه شتمني ولجه کړې،دولتي سياسي ځواک هم په لاس کې لري. دولتی ماشين په زياتېدونکې توګه دخلکو دځورو آزار، دزيار ايستونکو پرګنو پروړاندې دلويو شتمنيو خاوندانو، دجهادي ډلو ټپلو بولندويانو، د نشه يی توکيو دمافيا او واکمنې ارتجاع دګټو ساتنه کوي او دپرمختګ ، بيارغونې، د زېږځواکونودچټکې پرمختيا اودخلکو د دېموکراتيکو آزاديو دپلي کېدو په لارکې پر يوه خنډ اوښتی دی .

لاتراوسه هم په هېواد کې وسله والې ملېشې شتون لري او پر وګړنيو پرګنو باندې زور زياتی کوي، همدا اوس په لسونوزره ميله وسلې او په زياته توګه نا چاودي توکي په نا قانونه ډول د پخوانيو وسله والو باندونو په چوپړ کې دي .

دماينونو کروندې لاتر اوسه پاکې شوې نه دي او دغه ستونزه دځاني زيانونو او د اقتصادي کارندويو د لنډ ګنډ تيا لامل ګرځېدلې ده .

له زياتو لګښتونو سره سره پوځ او پوليس ددا سې يوه ځواک په توګه چې وکولای شي، دهېواد اوسنيو امنيتي ـ دفاعي اړتياوو ته ځواب ووايي، جوړ شوی نه دی. دهېواد امنيتي ځواکونو په ليکه

کې زیاتره د پخوانیو جهادي تنظیمونو هغه کسان راځي چې دهېواد تر امنیتي ـ پوځي موخواو ګټو مخکې د خپلو تنظیمي تړاوونو اوتوکمیزو اړیکو لېوال دي. په ډېرو برخو کې هغوی ددې پرځای چې دنظم ساتونکي وي، په خپله دبې امنیتۍ او د نظم د ویجاړونې لامل ګرځي ، له سلو نو میلیونو ډالرو بهرنیو مرستو سره سره دهېواد پوځ او پولیس د پوځي ا وزارو سا مونو، کارندویي اوجګړه ییز مورال په ډېره ټیټه کچه کې ټیکاو لري او له کارپوهیز کمي سره مخامخ دي ، د ځانګیزو کادرونو په ټاکنه کې له تنګلیدۍ (تعصبه) کار اخېستل کېږي ، همدا اوس دپخواني پوځ زرګونه ازمېښتکار، ځانګوال (مسلکي) او هېواد پال افسران دبې برخلیکۍ په اکرکې دي.

په هېواد کې دبهرنیو ځواکونو شتون دهېواد دملي واکمنۍ دکمزورتیا لامل ګرځېدلی دی. بهرنۍ لاسوهنې او د جوتو کړیو بیلتونپالنې دهېواد ځمکنۍ بشپړ تیا له ګواښ سره مخامخ کړې ده.

په هېواد کې دیوه دېموکراتیک بلونج ( الټر ناتیف) نشتوالی ، دارتجاعي ځواکونو په چوپړ کې د ټولوژلې وسلې شتوالي ، دهغوی بهرني ملاتړ، له ستر مالي شونتیاوو او په تېره بیا دنشه يي توکیو له ایرو (عوایدو) څخه ګټه اخېستنه د دې لامل شوې چې سیاسي اکرپه بشپړه توګه دارتجاع په لا ځواکمنېدنه کې پاتې دی، دهېوادکېن دېموکراتیک غورځنګ دنورو لاملونو ترڅنګ لکه آندیزاو اډانیزې (تشکیلاتي) ګډوډۍ، دهېواد په روان سیاسي اکرکې ځای نه لري ، له دې لامله هغه بدلونونه چې دهېواد په سیاسي برخه کې رامنځته کېږي، ددې غورځنګ له اغېزه بهر دي. په هېواد کې د کړکېچ لمن ورځ پر ورځ پراخېږي او داوسنیو واکمنو اړیکو په چوکاټ کې دجګړې پایته رسیدو، د اوږ اوټیکاودپایښت ، دتلپاتې سولې ټینګښت، دخلکو دېرګنو دژوندانه دکچې لوړتیا اودزیارکښانوژوند لپاره داقتصادي ودې کوم سترګ ارت (چشم انداز) نه لیدل کېږي .

**ب ـــ اقتصادي اکر( وضعیت)**

مرګوني بېوزلۍ (وژونکي فقر) دخلکو پرمریو منګولې ښخې کړې او دیوه لږ ه کي افسانه يي شتمنو او د وګړنیو پرګنو ترمنځ واټن پراختیا او ژورتیا مومي .

دهېواد استوګن تر اتیا زیاته سلنه په ورځ کې له یوه ډالر ایر(عاید) سره دبېوزلۍ تر لیکې لاندې ژوند تیروی، دژونداکر له پلوه دافغاني ټولني کلیوال دری پر څلورمه برخه په مرګونې او بشپړه بیوزلۍ کې شپې سبا کوي .

دهېواد د وټیزې (اقتصادي) ودې چټکتیا ډېره ټیټه کچه لري، په اوسني اکربکر کې چې د پام وړ شمېر کار وړ ځواک دجګړې او بې امنیتۍ بلهاریږي او له زېږ (تولید) بهیره وځي، داوسنیو واکمنو اړیکو په چوکاټ کې داسې یوه اقتصادی وده کېدون نه لري چې دهېواد غوښتنې ، بیرته پاتوالي او دزیارکښانو ژوند ښهانې ته ځواب وویلای شي. دنړیوال پولي صندق د ګوزارښت پربنسټ پر ۲۰۰۶ کال دهېواد د استوګنو سړ یسر کالنی ملي ایر۳۵۵ امریکایي ډالروته ورسېد ،دا

په هېڅ ډول دهېواد د وګړو رښتيني سرېسر د کالني عايد ښکارندويي نه کوي، که چېرې موږ دغه شمېره هم ومنو، بيا هم افغانستان له دغه پلوه تر ټولوبيرته پاتيو هېوادونو په ډله کې راځي .

له ځينو ننداريزو هڅو پرته د درو لسيزو اوښتو تاوانونو د له منځه وړنې پر لور هېڅ يواغېزمن ګام نه دی اخيستل شوی ، بلکې د بيا رغاونې لپاره يو هر اړخيز پروګرام له اره هډو وړاندې شوی نه دی.

په ميلياردونو ډالرې چې افغانستان ته دمرستې په نامه راغلې، لوټ او تالا شوې او د پرګنو پرژوند کوم پاموړ اغيز نه دی ښندلی . اِنجيو ګانې چې دآزاد بازار داجرايي او ايديالوژيک اوزار په توګه پر کار لوېږي، د دغو مرستو ستره برخه لوټوي .

افغانستان په چټکۍ سره ديوه خپلسري ياغي آزاد بازار نظام لوري ته درومي چې موږکولای شو، همدا اوس يې دهېواد پرملّي اقتصاد اودزيارکښو پرګنو پر ژوند ورانګرې اغېزې په ډاګه ووينو.

دآزاد بازار وارداتي مخبېلګو(موډلونو) د پېښو (تقليد) له لامله په هېواد کې زېږېزې (توليدي) هلې ځلې له پرځا (سقوط) سره مخامخ شوې او افغانستان کورټ پر يوه لګښتي (مصرفي) کلي اوښتی دی. سره له دې چې په کابل او ځينو نورو ښارونو کې يو لړفابريکې پر کار اچول شوې دي، خو دنړۍ د مالي او سوداګري سازمانونو له سپارښتو سره سم اقتصادي سياستونو په پايله کې د هېواد يو پاموړ شمېر توليدي ځانګې پر ټپه درېدلې اوځينې يې هم د پرځا په درشل کې دي. د هېواد د تازه او نويو رامنځته شويو رغاوو( صنايعو) د پرځا بربنډې نښې نښانې پر سترګو کېږي او هره ورځ د رغاويزو ځانګو (صنعتی مؤسساتو) يوشمېر کارګران خپل کار له لا سه ورکوي ، د دولت نا انډول اويواړخيز سياست د دلالي بورژوازۍ په ګټه او دکمپرادورانو د کار کړن د لمن خپريدنې، په تېره بيا ورته کورنيو مالونو دواردولو په ډګرکې دکورنيو صنايعو د پيدايښت ګټورتيا تر پوښتنې لاندې راوستې اوپه دغه ډګر کې يې دپانګونې شونتياوې لنډې تنګې کړې دي .

ددولت پولی سياست، له هېواد څخه دپانګو تېښتې ته رسميت ښلی او دپانګو دزېرمو دود بهير يې پخ کړی دی، دولتي اداره ددې توان نه لري چې ملی اقتصاد او اقتصادی ودې په موخه اغيز من ارزي سياست غوره او عملي کاندې .

دهېواد اقتصاد په بشپړه توګه پر يو لګښتي (مصرفي) اقتصاد بدل شوی او بهرنی سوداګري بيلانس زموږ دهېواد د اقتصادي بخولې (فاجعې) بېلګه بلل کېدای شي .په هېواد کې دپانګو لويه برخه پرنااړينواو سينګاري برخواو په تېره بيا نااړينو جګو ودانيو په جوړولو لګېږي اوپه پايله کې يې خلک د لومړنيو ژونداړتياوو له لاسته راوړلوڅخه بې برخې کېږي. تېرو درو کلونو کې په کورني بازارونو کې دخلکو اړتياوړ لوښودبيو کچه پېنځوس سلنه او په ځنو برخوکې ان تر سل سلنې لوړ شوی. اداري او اقتصادي فساد ددولت ټولو ځانګو خرانګوته لاره موندلې او په چټکۍ

سره نادولتي سازمانونه ته يې لاره غځولې او په دې توګه دبيا رغاونې او اقتصادي ودې پر وړاندى پر يوه بنسټيزه ستونزه اوښتى .

په دولتي اداراتو کې بډې (رشوت) او اختلاس په يوواکمن دود او روږده لاره اوښتې او دخلکو پرکمزورو اوږو باندې دروند پېټى شوى دى .

دهېواد ګڼټوړ کانونه په ټوليزه توګه دځواکوالو په چوپړ کې دي او دهغوى لپاره دګټو سرچينه ګرځېدلې ، نن سبا دولت پر ډېرو اقتصادي سرچينو باندې واک نه لري .

په هېواد کې د ناوزګاريکچه ډېره پورته ده ،همدا اوس دهېواد کار وړ وګړو پينځوس سلنه وزګاره ده او ګڼ شمېر يې دکار په لټه ګاونډيو هيوادونو ته ځي،په هېواد کې دکرنې اکر تر هر مهاله ډېر خوسا دى، دبد امنۍ، اوبو اوکرنيزو خدمتونو ته دنه لاسۍ له کبله له ۹،۷ مليون هکټارکر وَړ ځمکې څخه تر۴ مليونو هېکتار و لږه ځمګه کرل کېږي. دکرنې سکتور ته دتېرو درو لسيزو جګړوله لامله ډېر ځښت تاوان وراوښتى ، اقتصادي بنسټونه، اوبخور ځانګې ،ځنګلونه اوڅرځايونه ويجاړ شوي دي ، دکرنې او څاروي ساتنې زېږځواک (توليدي طاقت) خورا زيات راټيټ شوى اوله بهر څخه دخوراکتوکيو درالېږدولو اړتيا ورځ پر ورځ زياتېږي. دکرنيزو خدمتونو د اغيزمنې او بسنده کچې د برابرونې په برخه کې ددولت کاري توان ډېر کمزورى شوى دى .

پر ځمکه باندې دوديزه تولواله (مالکيت) بدلون موندلى دى ، دځواکوالو ، جهادي تنظيمونو بولندويانو (قوماندانانو) او ټوپکوالو له خوا پر دولتي ځمکواو ټولګټو(عام المنفعه) تولونو (ملکيتونو) باندې ولکه هماغسې پايېنه ( دوام) لري. دترياکو دکر اوسوداګرۍ پر بنسټ دهېواد د اقتصاد تړلتيا په بېساري ډول لوړې کچې ته رسېدلې ده، دنشه يي توکيو اقتصاد دهېواد په ګردو ټولنوټيزو برخو کې جرړ ې غځولې دي .

**ج – ټولنيز اکـــــر(حالت)**

دهېواد دسياسي ، امنيتى اووټيز (اقتصادى) اکر پايلې پر ټولنيز اکر باندې ډېرې بخولناکې اغېزې راپرېښې دي . افغانستان دمرګ مړينې له پلوه په نړۍ کې تر ټولو هېوادو خواشينووکي اکر لري. هره ورځ په زرګونو ماشومان د بېلابېلو ناروغيو له کبله مري .

دروغتيايي چارو اکر په هېواد کې ډېر زړه بوږنوونکى دى. خلکوته د وړيا روغتيايي چارو له سمبالونې ددولت څنګ ته کېدل اوځانګړي (خصوصي) برخې ته يې سپارنه ، روغتيايي کارکوونکو، روغتونونو او درمل نشتوالي دهېواد په زيار کښو او بيوزلو کې دمړينې کچې دجګېدو لامل شوى دى .

په هېواد کې دښوونې اکر له هغه څه سره سره چې په دې وروستيوکلونو کې ترسره شوي، لاهم

ډېر خواشینوونکی دی. تر دوومیلیونو ډېر زده کوونکي په ازاده هوا او یاخو تر کېږدیو(تجیرونو) لاندې زده کړې کوي ؛ دیوه ښوونکی میاشتنی ایر (معاش) تر۳۸ امریکایي ډالرو تېری نه کوي !

په هېواد کې بېکوری او د بیو لوړ والی یو له ډېرو ستر و لانجو څخه دي. همدا اوس دهېواد په لسګونو زرو زیارګالونکې کورنۍ دښارونو شاو وخوا ترکېږدیولاندې اویاخو په سمڅو او غارونو کې ژوند کوي. دولت داستوګنځایونو پر خورا ستره ربړه باندې سر نه خوږوي. ګټپال ځواکمنان ددولتي ځمکوپر بلوسنه (غصب) او دلویو اولوړو بنګلو پر ودانه بوخت دي .

مېرمنې له خپلو وَړَندو ربنتو څخه بې برخې دي،اوددوی دژوند په ښهاني ، لکه له نارینه وو سره دیو برابر ربنتو، د خپلې خوښې واده، دکار او ځانګې (مسلک) ازاد غوراوي ،دکالیو اغوستلو، د ازادیون (سفر)، دمېږه او راتلونکي ژوند دملګري ټاکلو او داسې نور و په اړه،نه د قانوني چال چلند په توګه او نه هم په کوم بل ډول کوم اجرایي کارونه ترسره شوي دي .

ماشومان په افغاني ټولنه کې تر ټولو خوار او بېوزله پوړ جوړوي. ددوي ډیری له لومړنیو ربنتو، لکه روغتیا، زده کړې اوداسې نورو څخه بې برخې دي. دهېواد لکونه ماشومان په ډېرو سختو کارونو اویاخو دخپلو کورنیو دچلولو او مرستو لپاره په مزدورۍ او ګرانو کارونو لګیا دي . پر ماشومانو نوږیز ( جنسي) تېری ، د روږدتیایي او نشه یي توکیو په بانډونوکې یې ګومارنه په هېواد کې پر یو ټولیز او دود کار اوښتی ده. ځوانان ، په تېره بېوزلو او لاسکتوو پوړونو اړوندځوانان دټولنې له هغو پراخو پوړونو څخه دي چې ډېر ځښت زیان ورته رسي ، دغه ټولنیز ستر ځواک په خورا ټیټه تنخاپه جنګونو کې ګومارل کېږي او په ډېره اسانی له ژونده بې برخې کېږي. ځوانان په یو ناڅرګند برخلیک کې ژوند کوي. دهېواد دځوانانو ستر ډیری له کار ، زده کړې ، هوسایۍ، ورزش او نور و اړینو ربنتو او شونتیاوو څخه بې برخې دي.

پرنشه یي توکیوروږدتیا (اعتیاد) دهېواد پر یوه کرغېړنه او هېښنده ربړه اوښتی دی. هره ورځ پکې داخته وو ګڼ شمېر ځوانانو ، نارینه وو، ښځې اوان ماشومانوشمېر ډېرېږي .

له کورنیو جنګونو څخه بې ځایه شوي او بې وزله کوچیان دمرګ وژوندپر پوله ناست دي. هېواد ته دبېرته ستنېدونکو او په ځانګړي ډول دهغوکورنیو اکر چې د کوربه هېوادونو له خوا په زوره راشړل شوي ډېر بوږنوړی دی. دوي له ساده ترینو ټولنیزو څیزونوڅخه بې برخې دي. دهېواد بوړي یامات او ګوډ وګړي په سخته بې وزلۍ کې ژوند تېروي او داسې ورځ نشته چې دهغوي دګوتځنډنې (اعتراض) غږ پورته نه شي.

## ۲ ـ په سیمه او نړۍ کې

بشر دخپل تاریخ په ستر او ښتون کې دی. دزېږ ځواکونو (نیروهای مؤلده) بې کچه پرمختیا چې دپانګوالۍ دتېکنالوجیک اوړون (انقلاب) پیلامه ده، که یوخوا دبشر دربړو په لرې کولو کې پراخ سترګ ارت (چشم انداز) پرانیستی، نو بلخوا یې انسانان نورهم پسې دپانګو غونډونې، زېرمونې او دګټو دکچې دلوړونې منطق تر اغیز لاندې راوستي دي.

په رغاویزو (صنعتي) هېوادونو کې دزېږ (تولید) په تړاو دپرمختللې پوهنې او تېکنالوجۍ کارونه

دوه اړيېچه (متضاد) پيلامې لري: يوخوا يې زيږکچې ته پراختيا ورکړې او دلا سرباري ارزښت (اضافي ارزښت) دډيرېدولامل کيږي او په دې توګه دپانګې زيرموني ته ګټه رسوي او بلخوا دژوندکارځواک لويه برخه له زيږ برخې باسي او د کارګرانو دسترو وزګار تياوو لامل ګرځي. له تکنالوجيک اوړون (انقلاب ) سره پټليز، پانګوالي په ټوله خاورين غونډاري کې دځان په پراخولو لګياده چې دخپل سرباري زيږ (مازاد توليد) لپاره دنويو بازارونو پلټنه وکړي.

په پانګوالي نظام کې دپانګې زيرمه له يو بل څه سره هم همغږي دي چې هغه ته پانګواکي (ايمپرياليزم) وايي. ايمپرياليزم يعني پرتوله نړی ځواک او واک خپرول ! نوی ايمپرياليزم دنړيوالې پانګوالی سياسي – پوځي اړخ دی! دپانګې نړيوال کېدل او له هغه سره پټليز نوی ايمپرياليزم زمونږ داوسني پېر ځانګړې بنستيزه نښه نښانه ده. د نوي ايمپرياليزم او پانګې دنړيوال کېدلو ځانګړتياوې دا لاندې دي :

- دوتيزو (اقتصادي) شرکتونو ترمنځ وحشيانه جګړه چې په پانګوالي منځيو (مرکزونو) کې دسترو برخو په اقتصادي ماتولو او له منځه وړلو سره، دپانګوالي هېوادونو وګړو ته له توکيز (مادي) او انساني پلوه ستر زيانونه اړوي.

- په نړيوالو سازمانونو، لکه اتګوني ډله، نړيوال بانک، دپيسو نړيوال صندق، نړيوال سوداګري سازمان او داسې نورو کې چې د نړۍ تر ليد او لاسرسي بهر دي، په نړېواله کچه داقتصادي ځواک يوموټي کېدل او د ځواک لېږدېدل .

- دپانګې نړېوالېدنې اونړيوال ايمپرياليستي جوړښت ته د نظم وربښنې لپاره د جګړو رسمي کول ، دمخنيونکيو جګړوپه پلمه دايمپرياليزم دنوي پوځي دوکتورين پلي کول او دترهګري ضد جګړو په پلمه ددغو يرغلونو توجيه کول.

- دشمال او سهېل تر منځ، ياني د پانګو دمتروپولونو او دهغه شاوخواسيمو ترمنځ دناانډولتيا ډېرول. دپانګوالو هېواد په شاوخواکې لوړې او بيوزليو ته د ترهګرۍ لپاره دنويو سرچينو دجوړولو په موخه پراختيا ورکول.

- ددېموکراسۍ دملاتړ او يا دهغه دلېږد  په پلمه دايمپرياليزم دستراتيژيکو ګټو دسيمو پراخول ، دانساني ژوند دټولو سرچينو او کارندو برخو لوښي «کالا» کېدل ؛ له علمی فرهنګی کړو وړو څخه نيولې تر اوبو او په دې وروستيو کې تر«هوا» او ان دانسان ژنوم هم دپانګې دلوښي «کالا» په منطق کې ورګډ شوي دي.

داوسني پېر له نو رو ځانګړتياوو څخه يو هم دښي لاسوتر ټولو ښنديزو (افراطي) برخو ته دپانګوالي نظامونو دځواک لېږدېدل دي. همدا اوس په ځينو پانګوالي هېوادو کې نيو کانسرواتيف ځواکونه واکمن دي. دنوې لېبرالی پانګوالی نړېوالېدنه، نه يوازې پر شاوخوا هېوادونو باندې ناوړه اغېزه ښندلې، چې په لويو پانګوالو هېوادونو کې د وګړود ژوندکچې راټيټېدو لامل هم ګر ځېدلې ده.

دنيو لېبرالېستي سياستونو دپلي کولو له لامله ، کارګر او دلويو صنعتي هېوادونو زيار کښ پوړ ونه

ټولې هغه بریاوې یې چې تراوسه ا و په ځانګړي توګه دنړیوالې دویمې جګړې څخه را وروسته ترلاسه کړې وې، له لاسه ورکوي.

دمذهبي بنسټپالنې (رادیکالیزم) لازور اخېستنه او په ځانګړي توګه داسلامی بنسټپالی، ناسیونالېستی او بیلتون پالني لېوالتیاوې اودمدنیتونو او فرهنګونو ترمنځ مخامختیاوې داوسنی نړۍ یوه بله ځانګړتیا ګڼل کېږي.

دنیو ایمپریالیزم له سرزورو سیاستونو سره په نړیوالو اړیکو کې تاوتریخوالي زور اخېستی او سازماني شوې ترهګرۍ بېلابېلو و ډولونه بېسارې پراختیا مومي.

دنړۍ له طبیعي زېرمو څخه په یو مخیز او پرله پیپلي ډول ګټه اخېستنه له دغوزېرمو څخه دنړۍ دغونډاري تشېدنه او په ګواښمن ډول د چاپېریال د ککړ ېدو لامل ګرځي.دوسله والو سیالیو زور اخېستنې په ځانګړې توګه اېټمي وسلو ته ددېرو هېوادو لاسبري ، اوسنی نړۍ ترهر مهاله زیاته له ګواښ سره مخ کړې ده.

داوسني نړۍ له ځانګړتیاوو څخه یوه داده چې په یوخوا بر رغاویز (فراصنعتي ) هېوادونه پراختیا مومي او په بلخوا یو ګوسڼه (غول پیکر) نړیواله صنعتي ټولنه د رامنځته کېدو په درشل کې ده. بررغاویزې ټولنې ته د اروپا او امریکا دلویو هېوادونو مخه کېدل به دا خبره چې کوم هېوادونه به د صنعتي نړۍ بازارونو ته پرېکونی ځواب وړاندې کړای شي، دراتلونکو کلونو لپاره د مخامختیاوو ستر لامل وي.

د بر رغاویزو او دجوړېدو په درشل کې د غټو اقتصادي ځواکونو ترمنځ سیالي به دنړۍ پر کچ پراختیا مومي ؛ سم له لاسه داقتصادي زبر ځواکونو د رامنځته کېدو سترګ ارت د چین او هند په هېوادونو کې ترسترګو کېږي.

په تېرو دوولسیزو کې دنړۍ یو قطبي کېدو له کبله دنړۍ سیاستونو ته یوازې دنړۍ دیوازیني زبر ځواک دکړو وړو تر اغېزې لاندې لوري ورکول شوي ، او همداسې چې وړاندوېینه کېده ددولتي سوسیالېزم نړېوال سېستم له پرځېدوروسته کېن اړخه غورځنګونه تر هر څه له مخه ددغه سیاست لومړني بلهاري ول.

دبدلونو چټکتیا او بیړه ، داوسنی نړۍ له پامورړوځانګړیتوبونو څخه دي. پر دغو بدلونونو دبشري ټولنې ټولې خواوې ورګډې دي ، نړیوال یو قطبي ځواک څنګه چې رامنځته شوی وو، هماغسې دنړۍ داوړونونو پر وړاندې داوښتون په حال کې دی او نوي زبر ځواکونه د رامنځته راتلو په درشل کې دي.

له دوولسیزو ماتې، پرځا او سر خوړنې (سرخوردګي ) وروسته ، په نړۍ کې کیڼ اړخه ځواکونه دادې بیا دسر اوچتولو او پرمختګ په حال کې دي. پاړکیزه جګړه پر نړېوال کچ نوې خواوې او ډولونه غوره کړي دي.

په اروپایي پانګوالو هېوادو کې کارګر پاړکی دخپلو امتیازونو دساتلو لپاره خپلو مبارزو ته پراختیا

ورکوي ، دازادۍ، ديموکراسۍ او ټولنيز نياو (عدالت اجتماعي ) لپاره دنړۍ دزيارکښانو جګړه دمليونو وګړو په ځېره کې راښکاره کېږی او ځليږي ، دجګړې ضد غورځنګونه ، د تبعيض او ستم اونور يز توپير څخه دښځو دژغورلو غورځنګونه ، دپانګې دنړيوال کېدنې پر وړاندې غورځنګونه ، دچاپيريال ساتنې غورځنګونه او داسې نور، دنړۍ کارګري غورځنګونو پيوستون ورځ تر ورځ پراختيا مومي. ددې پرمختګ ډېره ځلانده او هيله تاندوونکې ښکاره بېلګه کولای شو چې په لاتينې امريکا کې دسوله ييزو او دېموکراتيکو مبارزو له لارې واک ته د کينو ځواکونو په رسېدلو کې ووينو. دغه پرمختګ همداسې د «نوي نړيوال نظم» دتلپاتوالې دداوې ناچلتوب (بطلان) څرګندوي او په ډاګه کوي چې پانګوالي دتاريخ پای نه دی.

هغه سيمه چې دافغانانو ټاټوبی پکې پروت دی، دنورو پرله پسې ډېرېدونو کړکيچونو پر منځۍ (کانون) بدليږي؛ پاکستان دترهګرۍ او ترينګلتيا دملاتړي په توګه په سيمه کې د ترينګلتيا، اوترهګرۍ پر زېږد او بيا زېږد بنسټيز نقش لوبوي. دايران په واکمنی کې د بنسټ پالو لانجه غوښتونکوځواکونو شتون ، دسيمې سولې او ټيکاو ته ستر ګواښ ګڼل کيږي.

په سيمه کې د ښکيلاک ګرودځواک له پيره د ګاونډيو هېوادونو ترمنځ دليکو پرسر کړکېچونه سرراپورته کوي، بيلتونپالې لېوالتيا وې ډېرې شوې او دسيمې جغرافيايي اوسني انځور (ارايش) يې له راتلونکي روښان ليدلوري څخه خالي کړی دی. دامريکا او لوېديځ لنډغري (ماجرا غوښتونکي) اوپراختيا پال سياست چې په سيمه کې يې دګټو ساتلو او پراختيا ، دمنځني اسيا هېوادونو طبيعي زېرموته لاسرسی، دسيمې په ځلاندوبازارونو په ځانګړې توګه دهندوستان بازارونو او په اېشيا کې درامنځته کېدونکو زبر ځواکونو پر وړاندې دپښو پلځي دټينګتيا په موخه ترسره کيږي ، دسيمې سوله او ټيکاو له ګواښ سره مخامخ کړي چې ددغو بخولو اوکرغېړنو سياستونو په پايله کې سيمه د مذهبي بنسټپالو په ولکه کې را ښکېل شوې ده.

| دريیم- کړنيزې موخې |
|---|

## ۱ ـ په سياسی ـ رښتي (حقوقي) پوځي ــ امنيتي برخو کې

د افغانستان خلک له ډېر مهال را هيسې په هېواد کې له هغه ټوليز کړکېچه ځوريږي چې د شتمنۍ او ځواکوېش پر سر د خونړيو جګړو او ناخوالو لامل ګرځيدلی. د هېواد، مليت، دين ساتنه ، ترهګرۍاوداسې نورو نومو لاندې اوسنۍ روانه اورګډې جګړه زمونږ پر خلکو راتپل شوې اودخلکو د ټولو ناخوالو او بدمرغيو سترلامل شوی ، د دوی رنځونه يې زيات کړي او د افغاني ټولنې د دېموکراتيک پرمخګ د لارې خنډ ګرځېدلې ده.

له پيړيو راهيسې ټول ځواک او شتمني د يوه کوشنې لړکي له خواراخېل (قبضه) شوي، دوګړو ډېری يې په لوږه او تنګسه کې ساتلې او د هېواد د ګړندي پرمختګ لارې يې ډپ کړې دي. دځواک او حکومت له څانګو خرانګو څخه د زيارکښانو او ستم ځپلو پرګنو د رښتينواستازو لرې ساتل، لوټمارانو ته په هېواد کې ډېرې ښې لارې چارې برابرې کړي دي. په داسې اکرو(حالاتو) کې:

دافغانستان آینده غورځنګ باور لري، چې د یو ربښتیني ولسواک، خپلواک، یوموټي او ملی واکمن دولت جوړول چې دافغانستان دخلکو دغوښتنو ښکارندوی اود ګټو ژمن وي اووشي کړای چې هېواد له ټولیز کړکېچه راوباسي ،تلپاتې سوله ، خپلواکی اوآزادي ټینګه کړي، دهېوادله خاورې ننګه او ساتنه وکړي اوافغاني ټولنه دزیاراېستونکو دژوند دودې او پرمختیاپرلوري ورسیخه کاندې، دافغانستان د خلکوپر تاریخي غوښتنه او ژوند اړتیا بدل شوي دي. د افغانستان آینده غورځنګ، د افغانستان د خلکو ددغې سترې تاریخي غوښتنې ملاتړ کوی او د هغه پلې کولو ته به د خپلو دندو په سرلیک کې ځای ورکوي. د افغانستان آینده غورځنګ، پر دې باور دی، چې په افغانستان کې د یوه پرمختللي ولسواک دولت جوړول اوړدمهالی بهیر دی، چې له پرله پېیلو او ځنډ نه منونکو دېموکراتیکو ریفورمونو او د ټولنې په سیاسي، ټولنوټیز (اجتماعی اقتصادی) او کولتوري برخوکې د پرګنو ویښیارانه ګډون په پیلامه کې شونې دی. له دې کبله د افغانستان د خلکو پوهاوي ، یوموټي کول او دټولنې په دېموکراتیکو پرمختیاوو اوبدلو نونو کې یې کارنده برخه او ګډون د اړونو (شرایطو) برابر ول یو ځنډ نه منونکې دنده ده.

اوسنی دولتي اداڼه ډېرى دجهادي ارتجاع ، بهر پورې تړلو بېروکراتانو او دنا بربندو مافیایي توکیودچلوونکو په چوپړ کې ده ، دهېواد برخلیک ټاکونکو ربړو د هواري توان نه لري، دبنسټیز قانون په چوکاټ کې دېموکراتیکه جولیزواله (فورمالیزم) چې له آره (ذاتأ) له نیمګړتیاوو ډک او یوله بل سره په اړپېچ ( ضدیت) کې دی، ونه شو کړای او نه شي کولای چې دهېواد سیاسي اوحقوقي اړتیاوو ته رغنده اومثبت ځواب وړاندې کړي.

د افغانستان آینده غورځنګ، د هغو ټولو بېشمېرو بدمرغیو، ناخوالو او بې نیاویو په پام سره چې زموږ د هېواد پر خلکو باندې تپل کېږي، د خلکو د ربښتینو غوښتنو او پر ټولنیز نیاو (عدالت) ولاړ نظام د جوړولو په موخه د یو داسې ولسواک اساسي قانون د جوړېدو لپاره په پرله پېیلې توګه جنګېږي چې د ټولو دېموکراتیکو آزادیو، دهېواد خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا، ملي واکمنۍ او د قانون له مخې دهېوادوالود یوراز ربښتو ژمندویې وکړي، توکمیز، ملي، قومي، ژبني، نوریز (جنسي) او مذهبي توپیرونه جرم وګڼي، د ګوندونو او ټولنیزو ساز مانونو د آزادې کارندویۍ (فعالیت ) ژمندویي وکاندې او انساني کرامت د یو لوړ آر (اصل) په توګه ومني.

د افغانستان آینده غورځنګ، د افغانستان د خلکو دهغو ټولو هلو ځلو بشپړ ملاتړ اوننګه کوي چې دخپلواکۍ، ملي واکمنۍ، ځمکنۍ بشپړتیا، ولسواکۍ او اندولتیا او ټینګتیا له پاره سر ته رسېږي.

د ډیورنډ کرښه چې دسیمې او افغانستان دخلکو له غوښتنې پرته د آزادیپالې جبهې ددواړوخواوو په لیکو کې د همارو او همفرهنګویوموټې پر تو او مېشتو ولسونو د بېلاوي لپاره له بهر نه د انګریزي ښکېلاکي ځواک د ساتنې په موخه راتپل شوې، په پرله پسې ډول په سیمه کې د اړودوړو او شخړو لامل ګرځیدلې او دسیمې د مېشتو خلکو سوله ییز ژوند او ګټې د تل لپاره له ګواښ سره مخ کړي دي، د افغانستان آینده غورځنګ د داسې اړونو (شرایطو) د برابرولو په پار هلې ځلې کوي چې په سیمه کې د داراز لاسرغیو (ساختګي) پولو شتون له مېشتو ولسونو او هېوادونو تر منځ دوروروګلوۍ اوپراخو اړیکو د ټینګښت په لاره کې خنډ نه

شي. د افغانستان آینده غورځنګ په دې باور دی چې د هېوادونوترمنځ دپولود لانجولرې کول یوازې دسیمه ییزو خلکو د ربښتینو سیاسي استازو تر منځ دخبرو اترو له لارې هواربدای شي، نه د هغو ایدیالوژیکو ارتجاعي حکومتونو له خوا، چې د هېڅ ډول تاریخي او دېمو کراتیکې ویسا (اعتبار) لرونکي نه دي.

ولسواکي د یو ولسواک دولت بنسټیز اړ (شرط) او ستن (رُکن) جوړوي چې په ولسواک دولت کې سیاسي ځواک او واک په خلکو پورې اړه لري او خپل رواوالی هم له خلکو تر لاسه کوي. د افغانستان آینده غورځنګ، په افغانستان کې د یو داسې ولسواک دولت غوښتونکی دی، چې دټولټاکنو په لړکې د خلکو د آزادو، پټو او سیده رایو په پایله کې له هر راز ټبرني، ملي، مذهبي، توکمیزو، ژبنیو اونوریزو ( جنسي) توپیر ونوپرته منځته راشي.

د افغانستان آینده غورځنګ، په افغانستان کې د آزادو او دېموکراتیکو ټاکنو د اړونو د برابرولو لپاره جنګیږي، دافغانستان دزیار ایستونکو دغوښتنو دوړاندېیني لپاره به دغورځنګ د ګټو په پام سره په ټاکنیزو سیالیو کې ګډون وکړي ، واکمن اورګانونه به د ارتجاعي ځواکونو له واک و چوپېره را وژغوري او د افغانستان د زیارکښانو د غوښتنو د پلي کولو په پاربه ګټه ترې واخلي.

ددې ټکي په پام سره چې سیاسي نظامونه دوه اړخیز جوړښت لري - یو یې سیاسي – ټولنیزه منځپانګه (پوړیزه ځانګړنه)، دویم یې سیاسي او ربښتي جوړښت ، نو دافغانستان دآینده غورځنګ په اند پر ولسواکۍ (دېموکراسۍ) ولاړ پارلماني جمهوري دولت ، ددروګونو (مقننه، اجرائیه ،اوقضایي) ځواکونو وبله جلاشتون سره، تر ټولو پر مختللی او غوره نظام دی. د افغانستان آینده غورځنګ باور لري چې د ولسواک دولت اداري جوړښت او د کار کولو ځانګړتیا، د سیمه ییزو دولتي اورګانونو د ربښتو او واکونو ټاکل د هېواد له اکرونو او اړونو او دخلکو له غوښتنو سره سم په نیاومن (عادلانه) او دېموکراتیک ډول جوړیږي. دافغانستان آینده غورځنګ، د دولت په سیمه ییزو اورګانونو کې د خلکو د پراخ او کارنده ګډون په موخه د سیمه ییزو شوراګانو د جوړښت ملاتړ کوي.

د افغانستان آینده غورځنګ، په دې باور دی چې په افغاني ټولنه کې یوازې د زیارکښانو د ګټو یو ساتندویه ولسواک دولت کولای شي چې دهېواد مېشتو ولسونو (ملیتونو) ته دسیاسي استازیو پرمختیا او پرمختګ ربښتیني اړونه برابر کړي. دولسواک دولت په حقوقي نظام کې د خلکو دبنسټیزو ربښتو، لکه د ژوند ، کار ، زده کړې ، میشته کیدل ، یون (سفر) ، روغتیا او د ځانګو (مسلک) د ټاکلو ربښتوڅخه په بشپړ توګه ضمانت او ملاتړ کیږي. د افغانستان آینده غورځنګ، په افغانستان کې داند اوګروهې ( عقیدې) دڅرګندونې آزادي، د رسنیو ، سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي سازمانونو جوړول او دهغوی د کار کولو آزادي ، په افغانستان کې د دېموکراتیکو او سیاسي آزادیو د ټینګښت (تأمین) لپاره اړین اړونه بولي او د هغوی د پرمختیا او پرمختګ لپاره هلې ځلې کوي.د افغانستان آینده غورځنګ، په هېواد کې د نیاومن قانون جوړولو سیستم پرمختیا او ژورتیا په پار جنګیږي او د قوانینو د بشپړ پلي کولو لپاره د ټولو هلو ځلو ملاتړ کوي.

دهېواد قضایي - حقوقي نظام بیا رغونه پر ژوند اړتیا اوښتي ده. د افغانستان آینده غورځنګ،

زموږ دخلکو نیاوپال دودونوته په پام سره په هېواد کې پر اوسنیو واکمنو حقوقي آرونو باندې په علمي او مترقي توګه بیا کتنه او غور، تاریخي اړتیا بولي.

د افغانستان آینده غورځنګ په هېواد کې په پرمختللي تخنیک سمبال ملي اردو جوړول او د هغه د جګړه ییزو چمونو (مهارتونو) د کچې لوړول د دولت یوه ځنډ نه منونکې پاژه ګڼي . موږ دیوه داسې ملي اردو د جوړولو ملاتړ کوو، چې دفاعي رغښت (ماهیت) ولري او د هېواد د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ژمندوی (ضامن) او د افغانستان د خلکو د ګټو ملاتړی واوسي. دافغانستان آینده غورځنګ، غواړي چې په هېواد کې ټولې ټوپکوالې ډلې ټپلې او ولسي ملېشې هرومرواوپه بشپړ توګه تشپانې (بې وسلې) کړ شي، وسلې او جګړه ییز توکي ځنې راټول کړشي او هېواد له ماینونو څخه پاکوالی ومومي.

د افغانستان سیاسي - جغرافیایي دریځ (موقعیت) دغه هېواد ته په سیمه کې یو ځانګړی ارزښت ورکړی او دغه ځانګړتیا ددې لامل شوې چې زموږ هېواد د نړۍ اودسیمې کازمنو (حریصو) ګاونډیو هیوادونو لپاره تل دجګړه ییزو لوبو پر ډګر واوړي.

د افغانستان آینده غورځنګ، په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې د داسې مرستو او هلو ځلو ملاتړ کوي چې د ټولیزو (عمومي) ګډوډیو دپایته رسولواو سولې او امنیت دټینګولولپاره ترسره کېږي، داهم غواړي چې دبهرنیو ځواکونو کار د ترهګرۍ او بنسټپالو مرکزونو د جرړو اېستلو او په هېواد کې د تلپاتې ټینګې سولې او امنیت راوستلو پر لوري ورسیخ کړشي، تر هغې چې زموږ په هېواد کې د بهرني پوځي ځواکونود شتون اړینه له منځه و لاړه شي.د افغانستان آینده غورځنګ ګروهه لري چې زموږ په هېواد کې د بهرنیو پوځي ځواکونو شتون له آره د سیمې او نړۍ سوله او ټیکاو (ثبات) ته ګواښ او خطر منځ ته راولي او په کار نه ده چې د افغانستان له خاورې څخه د نړیوال پانګوالي سېستم د ګټو او کازمنوموخو د خوندیینې لپاره ګټه واخېستلای شي.

## ۲- په وټیز (اقتصادي ) ډګر کې

**الف- د وټیز پرمختګ لوري:**

د افغانستان په اوسنۍ اکر(حالت) کې چې له وروسته پاتې وټیز سېستم سره زېږ ځواکونو سسته وده، د کار و زېږ دبریاوو ډېره ټیټه کچه د هېواد د وټیزبنسټ ځانګړتیا ګڼل کېږي ، د افغانستان وټیز رغښت له خپلوزېږ موخو له کبله یوه پېچلې او څو ډولیز رغښت دی چې اغېزمن زېږاوډ (تولیدي نظم) نه لري . پر دې بنسټ د هېواد ټولنوټیز پرمختګ لپاره د لاروچارو غوره کول او د وټیزو آرونو (اقتصادي پرنسیبونو) لارو رودو ټاکل یوه ډېره پېچلې (مبهمه) پوښتنه ده، چې زموږ اوستاسې مخ ته پرته ده.

دافغانستان آینده غورځنګ، په افغانستان کې زیارکښ استعدادونه، طبیعي شونتیاوو (ظرفیتونو)، پراخو کرځمکو، ځمکلاندې زېرمو، پر نړیوال کچ د تکنالوجیکي بدلنونو ګړندۍ بریاوو او د هېواد ترانزیتي - جغرافیایي دریځ ته په پام سره په دې اند دی چې که په افغانستان کې یو ولسواک دولت جوړ او سوله اوټیکاو منځته راشي، نو کېدای شي چې دغه هېواد ډېر ژر ودان

شي او پر يوه پرمختللي هېواد واوړي او د خلکو نيکمرغه او سوکاله ژوند سمبال او تضمين کړای شي.

د افغانستان آينده غورځنګ باوري دی چې زموږ په هېواد کې د منځنيو پېړيو وروسته پاتې ټولنوټيزو اړيکو شتون، اوږدمهاله وروسته پاتوالي، پرمختيا او پرمختګ نشتوالی او وټيزه بېوزلي (فقر اقتصادي) د ټولنيزو ناانډوليو (بيعدالتيو) روښانه زېږنده ده چې د دغو اړيکو او د ټولنې وټيز بنسټيز جوړښت له هر اړخيز اوښتون پرته، دزيار کښانو په ګټه افغاني وټيز پرمختګ ، پرمختيا او ټولنيزه نېکمرغۍ او سوکالي منځته راوړل ناشونې دي.

د افغانستان آينده غورځنګ پر دې باور دی، په يوه داسې وران ويجاړ اقتصاد لرونکي او وروسته پاتې هېوادکې چې خلک يې په لوږې او ډېره ټيټه وټيزه کچه ژوند کوي او د درو لسيزو ورانوونکو جګړو بار وربانډی تپل شوی ، هېڅکله نه شي کېدای چې يوازې د آزاد بازار وټيزې بېلګو (موډل) په غوره کولو د هېواد اوسنۍ رواني موخې او دندې ترسره او د ټولنې بنسټيزې اړتياوې پوره کړای شي. دافغانستان آينده غورځنګ ګروهه لري، چې دميليونووګړو برخليک د ازاد بازار واک ته سپارل په هيواد کې له ناورين څخه ډک، د بې سر و سرواښي پانګوالي نظام له ټينګښت پرته کومه بله بريا نه لري.

د افغانستان آينده غورځنګ، د افغانستان دټولنوټيز نظام د ټاکلو په کار کې د افغاني ټولنې د زيارکښانو ګټو ته لومړيتوب ورکول يو انکار نه منونکی آر (اصل) ګڼي - او په ټولنوټيز ډګر کې د خپل اوسني پړاو د دندو او موخو د پلي کولو لپاره د يو داسې ګډ وټيز (اقتصادي مختلط) سېستم ملاتړ کوي، چې د آزاد بازار او هم د مرکزي پلان رغاونې له سېستمونو څخه جوړ شوی وي. دا چې وروسته به د کومو ټولنوټيزو سېستمونو توکي (عناصر) ډېر اغېز ولرلای شي ، په ټولنيز اوپاړکيز (طبقاتي) جوړښت کې د هغه نظام دسياسي لامل (عامل) واکمنو ځواکونو په نقش ، موخو او لېوالتياوو او د زېږ ځواکونو د پرمختګ دکچې په څرنګوالي پورې اړه لري. دافغانستان آينده غورځنګ، د هغه راز وټيزو سياستونو ملاتړ کوي چې موخه يې د خلکو د ژونددکچې لوړوالی ، دملي وټيز په ټولوبرخو کې د يو ټينګ اوانډوليز (متوازن) پرمختګ ټينګول او په هېواد کې ټوليز نيکمرغه او سوکاله ژوند د جوړولو لپاره روښانه ستراتيژي ولري. دافغانستان آينده غورځنګ باورمن دی چې، دزېږځواکونو (توليدي قوتونو) د ګړندي پرمختګ د وټيز بنسټونو جوړول او د يو پرمختللي ټينګ او وټيز انډول لپاره، په کار ده،چې له ټولو ملي پانګوسرچېنو اوبهرنيو زېرموڅخه په اغېزمنه توګه ګټه واخېستل شي او داوسنيو وټيزو دندو د پلي کولو لپاره د هېواد د ټولنوټيز- ستراتيژيکي کړنلارې ، د دولتي، ځانګړي (خصوصي) او ګډو مرستندويو (تعاوني) سېکتورونو پر بنسټ جوړ شي.

د افغانستان آينده غورځنګ په داسې حال کې چې د ټولنوټيز بنسټيزو جوړښتونو داوړون په کار کې د هېواد ټينګ اوانډوليز (متوازن) پرمختګ اودزبېښاک دکچې د ټيټوالي پر لور د دولتي او مرستندويو تولواليو(ملکيتونو) دپراختيا او ټينګښت رول په پام کې لري خو بيا هم له ځانګړو (خصوصي) سېکتورونو څخه پراخه اواغيزمنه ګټه اخيستل اړينه بولي او په دې ډول دغه غورځنګ په هېواد کې د دولتي او تعاوني اقتصاد ملاتړ کوي. دافغانستان آينده غورځنګ ګروهه لري چې په بنسټيزو اقتصادي برخوکې د دولتي، تعاوني اوګډوسېکتورونو پرمختګ په

هېواد کې د سولې اوټيکاو ژمندويي کوي، خو دا په دې مانا نه ده چې په ملي وټيز جوړښت کې د نورو اقتصادي سېکتورونو رول لږ ارزښت لري. په دې تړاو هر راز تېروتنه، لکه د يوازېني لارښوونده او پانګونيز فکتور په توګه ددولتي سېکتور رول مطلقول او دهېواد وروسته پاتې وران ويجاړ وټيز اکر (حالت) له پامه غورځول، د افغانستان پر ملي وټه (اقتصاد) باندې ناوړه اغيز ښندي.

پر زېږيزو لوښيو (توليدي وسايلو) باندې دځښتنوالي څرنګوالی په ټولو بشري ټولنو کې يو بنسټيز ټولنوټيزه ربړه(مسئله) ده. داربړه د انسان له خوا له انسان څخه د ناروا ګټې اخېستنې او د نورو ټولو ټولنيزو ستونځو د هواري لارې په ګوته کوي. تر هغې پورې چې د هېواد ګرده وټيزه (اقتصادي) شتمني د ټولنې په واک کې نه وي، د وګړو له هر اړخيز پرمختګ څخه خبرې نه شي کېدای! دافغانستان آينده غورځنګ ديوې انسانې ولسواکې ټولنې دجوړولو لپاره د ټولنيزو شتمنيو انډوليز (عادلانه) وېش يوازيني ارزښتناک اړ (شرط) ګڼـي، چې دغه ربړه (مسأله) زموږ د غورځنګ يوه لرموخه (لرې هدف ) جوړوي.

د افغانستان آينده غورځنګ پراند دهېواد په دغه تاريخي پرمختايي پړاو کې د ټولنوټيزو پروګرامونو د جوړولو په کار کی اړينه ده چې له نرمښت (انعطاف پذيری) څخه کار وا خېستل شي. د ټولو قانوني (دولتي، تعاوني او خصوصي ملکيتونو) ساتنه د هېواد د وټيز او سياسي ټيکاو ژمندويي (ضمانت) کوي. دافغانستان د آينده غورځنګ له انده دافغانستان د تاريخي ټولنوټيز وروسته پاتوالي د له منځه وړولو لپاره په کار ده چې دهېواد په ګرد وټيز نظام کې دپانګو دګړندی زېرمونې بهير پر کار واچول شي او په ملي اقتصاد کې ټولو رانغښتو سېکتورونوته د يوې علمي تګلارې او روښانې ستراتيژۍ پر بنسټ چې د ټولنې د پرمختګ او توليزې سوکالی لپاره څرګندې موخې ولري، داسې لارښوونه وشي چې په هېواد کې توليز وروسته پاتوالې له منځه يوسي، اقتصادي خپلواکي ټينګه شي ،زېږځواکونه پرمختګ وکړي او د خلکو ژوند کچه په پرله پسې ډول اوچت کاندې.

دافغانستان آينده غورځنګ پر هغو ستراتيژيکو جوړښتونو (تأسيساتو) باندې، چې دهېواد دخپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتيا او ملي واکمنۍ سره نه شلېدونکي اړيکي لري، لکه پرځمکه، انرژي سرچينو، ځنګلونو، کانونو، بندرونو، ځمکنيو او هوايي لېږدليکو يا اړيکليکو (ترانسپورتي يا مواصلاتي لارو) باندې د دولت تولوالي (مالکيت) ټينګول اړينه بولي او په بنسټيزو اقتصادي جوړښتونو، روغتيايي، زده کړيزواو ښوونيزو ځانګو (مؤسسو) او د چاپېريال ساتنې په برخو کې د دولت د پانګونيزې (سرمايه ګذارۍ) پرمختيا ملاتړ کوي.

ب - دکرنې په برخه کې :

ددې ټکي په پام سره چې په افغانستان کې ځمکه دزېږ (توليد ) تر ټولولومړنۍ ارزښتناکه وسيله ده او دهېواد په ملي وټيز کې بنسټيز نقش لري، دافغانستان آينده غورځنګ دځمکې دربړې (مسئلې) او ورباندې دځښتنتولۍ دڅرنګوالي دربړې هوارۍ، هېواد ته ډېر ارزښتناک او حياتي بولي. دافغانستان آينده غورځنګ باوري دی چې د سيده زېږندويو (مؤلدانو) په ګټه ديوه رښتيني پر

مختللي ځمکسمون (ارضي ريفورم) او دځمکې او اوبو دربرې (مسئالې) له بيخبنايي هواري پرته دکم ځمکو او بې ځمکو کروندګرو دژوند ښهانه او پر له پيلې وتيز وده نا شونې دي.

دآينده غورځنګ له پامه داوبو سمبالتيا (تأمين آب) ، داوبخور څانګو اوډون (تنظيم) بې ځمکو او لږ ځمکو کروندګرو ته دوېش لپاره پر کرنيزوځمکو د شاړواړول ، دکروندو (فارمونو) جوړول ، دکرنې ميکانيزول ، پر ځمکه د څښتنتولی د يوه نياومن بريد (عادلانه حد) ټاکنه ، دکروندګرولپاره دزيږيزو (توليدي) لګښتي اړتياوو برابرونه ددې سمون ( ريفورم ) بنسټيزې کرښې جوړوي. د دغه سمون دپيلتکي په توګه کېدای شي چې د کرنيز زيږ ګټورو او اغيزمنو زيږ موخو لپاره د يوونونو (واحدونو) جوړول ترسره شي. په دې سمون کې دکروندګرو ځانخبرې او خپلخوښې برخه اخېستنه اړينه ده. د دغو سمونونو (رېفورمونو) دپلې کولو لپاره دکروندګرو ذهني چمتووالی او ملتيا، دافغانستان په کلواوباندو کې د يوه رښتيني ټولنوټيز (اقتصادي - اجتماعي) بدلون پيل دی دافغانستان آينده غورځنګ پر ځمکه باندې دپراخ ځانګړي (خصوصي ) تولوالي (مالکيت) نادودول او هغه دسيده زيږوالو لاسته ورکول، ددغه کرنيز پرمختللي بدلون دجوړښت رغښتيزه (اورګانيکه) برخه بولي.

دهېواد په ټولنيز جوړښت کې کروند ګر ډېری پوړ جوړوي او دټولنې په زيږيز او وټيز چار کې بنسټيز نقش لري. ډېری وګړ ميشته (نفوس ) په کرنيزو چارو بوخته ده چې دهېواد په ناسوچه اېر (عايد )کې ارزښتناکه برخه لري. داپينو او نشه يي توکيو دکر لپاره چې دهېواد په ملي اير کې تر ټولو لويه پانګه جوړوي ، دهېواد د ډېرو کرنيزو ځمکو ځانګړونې ددې برخې ارزښت لا نور هم ډېر کړی دی.

دافغانستان آينده غورځنګ دهغو ټولو کړنو او هڅو ملاتړ کوي چې دهېواد دکروندګرو او مالدارو د يو موټي کولو ، دپوهي دکچې لوړولو، دکرنې دميکانيزولو او له نويو علمي کرنيزو تګلارو څخه دګټې اخېستلو په موخه، ديېبرو (حاصلاتو) دکچې لوړولو، دځمکو ديېبروری دپراختيا او دهغوی دژوند اوکار دښه کولو پرلوري ترسره کېږي .

دافغانستان آينده غورځنګ په دې اند دی چې دهېواد اوسني ټولنوټيز پرمختيايي پړاو کې دکليوالو او په ځانګړي توګه دهغو وګړو ديوموټي کېدو او لوري ورکولو لپاره چې په کليو او باندو کې دډېرټيټ اير له کبله دخپل ژوندانه دلګښتونو وس نه لري، دنورو لاروچارو په پرتله کرنيز کوپراتيفي سازمانونه ډېر ګټور پرېوتای شي. دافغانستان آينده غورځنګ په هېواد کې دکوپراتيفي غورځنګ دپرمختيا او ودې ملاتړ کوي او په دې برخه کې په پرله پيلې توګه کار او هڅوته دخپلو دندو په سرليکه کې ځای ورکوي. دافغانستان آينده غورځنګ باوري دی چې دېبوزلو يوموټي کول او يوبل سره دمرستو اوکوپراتيفي سازمان جوړولو آر (اصل) چې دوټيزې کارندويۍ (اقتصادي فعاليتونو) پراخه برخه پکې راځي، دزياركښانو دژوند په ښهانه کې اغېزمن نقش لوبولای شي.

افغانستان دیو کرنیز هېواد په توګه دنشه يي توکيو ترټولو ستر زېرځاى دى. د وګړو لومړنيو اړتياوو پر لور دکرنيزسمون لپاره دنشه يي توکو دمافيايي څانګو درانغښتل او له منځه وړل اړين دي. دافغانستان آينده غورځنګ دغه سکالو ديوې تر ټولو سترې ملي دندې په توګه وړاندې کوي.

دافغانستان خلکو لپاره دنشه يي توکيو دناقانونه زېږ اوقاچاق پروړاندې جنګ (مبارزه ) ځانګړې ارزښت لري، په دې ډګر کې برى دکروندګرو، په تېره دلږ ځمکو او بې ځمکو بزګرانو دځانخبرئ او سيده ګډون غوښتونکي دى، دداسي کړنلارو دپلي کېدو لپاره اړتيا شته چې دجلابانو، کارتلونو او نشه يي توکيو دټولنو له منګولو نه دکروندګرو دژغورون او ورته د ژ وند ښهانې او بلونج (بديل) کښت پرلو ر لاربنود شي.

ځنګلونه دهېواد دملي شتمني يوه برخه جوړوي ، دتېرو کلونو په پېر کې ځنګلونو ته ډېر تاوان اوښتی. دافغانستان آينده غورځنګ دهغو ټولو کړووړ ملاتړ کوي چې دهېواد دځنګلونو د ساتنې ، پراختيا ، او سوليزې (معقولې) ګټې اخېستنې پر لور تر سره کېږي .

دافغانستان آينده غورځنګ دزيارکښو کوچيانو دخپلخوښې مېشتېدنې لپاره د آړونو برابرولو غوښتونکی دی او له هر هغه اغېزمنو کړنو ملاتړ کوي چې ددوى ژوند دټولنوټيزې او فرهنګي ښهانې پرلور بوځي. پرې نږدو چې ددغه ځورېدلي، بېوزله، او زيارکښ پوړ انساني رښتې تر پښو لاند ې شي او ورڅخه دهېواد له طبيعي زېرمو څخه دګټې اخېستنې رښتې و بلوسل شي.

**ج – کان او رغاوه( صنعت) :**

دکانو په برخه کې افغانستان بډايې او ليد وړ زېرمې لري. خو دښکېلاک ګرو دښکېلاک او لا سوهنو، دارتجاعي استبدادي واکمنو دواک او دټولنوټيز وروسته پاتې جوړښت په تړاو دهېواد پرمختيا او پرمختګ او دزيارکښانو دژوند دښهاني لپاره له دغوپراخو زېرموڅخه اغېزمنه ګټه نه ده اخېستل شوې. دافغانستان آينده غورځنګ پر کانو او نورو ځمکلاندې زېرمو باندې ددولتي واک ملاتړ کوي او غواړي چې دمنرالي او طبيعي کانونو او زېرمو دساتنې او ورڅخه دګټې اخېستنې په موخه دې دولت دجيولوجيکي څېړنو ، پانګو نو ، اغېزمنو او ګټورو کيندنو او اېستنولپاره داسې يو پراخ، پرمختيايي او هراړخيز پلان جوړ کړي چې دخلکو ژوند دښهاني او پرمختيا پر لوري ورسيخ کاندې.

دافغانستان آينده غورځنګ نه غواړي چې دهېواد نويوځانګړو سوداګرو او د رغاوېزو (صنعتي) پانګوالو سره اېډيالوژيک اوبيروکراتيک چلند وشي. زېرېز پانګوال په ملي وتيزه وده کې درغاوو (صنايعو) د پرمختيا ماشينونه ګټل کېږي. دغه برخه دخپلې پانګې په کار اچونې دنادولتي پانګو دراڅکولو (جلبولو)، انساني زېرمو په کار اچونه او کارپوهيزه او اغېزمنه چلونه دهېواد وتيزې

رغاوې ( اقتصادي صنعت) دپراختيا تر څنګ به اوسنيو پر مختيايي دندو ته درسېدو لاره لنډه کړي.

دافغانستان آينده غورځنګ دهغو ټولو اغېزمنو او ګټورو هڅو ننګه کوي چې دملي صنايعو دپراختيا او پرمختيا په موخه ترسره کېږي.

دافغانستان آينده غورځنګ دورهڼګرو (صنعتکارانو) هراړخيز ملا تړ کوي او دښکلو رغاوو (مستظرفه صنايعو) اولاسرغاويزو توکو دودې او پرمختيا لپاره ددولت له خوا داغېزمنو او هڅوونکو لارو چارو د وړاندېينې غوښتنه کوي.

**د - په پانګيزه (مالي ) او سوداګريزه په برخه کې :**

دافغانستان آينده غورځنګ دزيارايستونګو په ګټه دپرمختللي او انډوليز (عادلانه) سمون (رېفورم) غوښتونکي دی، دبېوزله او بډای (ثروتمند) تر منځ دواټن دلړولو په موخه پر ګټو اواړر باندې دپر مختللي مالي ټاکل اغېزمنې چارې بولي اود داسې پانګيز نظام ملاتړ کوي چې پر کورنيو اړريزو (عايداتي) زېرمو باندې په ډډې سره له بهر نه دېبر اومرستو کچه راټيټه کاندې. دافغانستان آينده غورځنګ پر لېږندو او نالېږندو (منقولو او غير منقولو) شتمنيو باندې دنياومنې (عادلانه) ماليې دلګولو پلوی دی.

دافغانستان آينده غورځنګ د بانکي سېستمونو دنويوالي او نومهاليزونې (مودرنايزېشن) غوښتونکی دی او کروندګرو ، کليوالو او بېوزلو ته دکمګټــو پورونو دورکړې په موخه دپرمختيايي ، کرنيز او مرستندويه (تعاوني ) بانکونو دجوړېدو او پرکار لوېدو ملاتړ کوي. دافغانستان آينده غورځنګ دنومهاليز (مودرنو) مخابراتو او اړيکيزو (مواصلاتي) سېستمونود پراختيا او پرمختياپلوي کوي.

دافغانستان آينده غورځنګ دسوداګرۍ په برخه کې ديوه داسې سياست پلوي دی چې دملي زېږ ځواک دودې او پرمختياژمندوی (ضامن) اوسي، دلېږدونو (صادراتو) دکچې پراخول، درا لېږدونو (وارداتو) پر ځای له کورنيو زېږ لوښو څخه ګټه اخېستنه او دهېواد ټوليزې سوداګرۍ ترمنځ انډول (بيلانس) ټينګ کاندې. په اوسنې آړ کې پرخپل مهال دوګړو داړينو لوښو، دزېږيزو مؤسسود اوموتوکيو (خاموموادو) برابرول او دکورنيو لوښو په شان دبهرني شيانو دنه پرېښوولو لپاره دتعرفې نظام چې دکورنيو زېږ والو په ګټه وي، ملاتړ وشي، او په دې موخه په کارده چې دتعرفې ځانګړی سېستم رامنځته شي.

دافغانستان آينده غورځنګ پوهېږي، په اوسني اکر کې چې داوسنی نړۍ پرکچ وټيز (اقتصادی) ځواک دڅو ځانګړو سازمانو لکه داتګونې ډلې (ګروه هشت)، نړېوال بانک ، نړيوال پولي صندک، نړيوال سوداګريز سازمان او داسې نورو په واک کې دی، او دخلکو لا س نه ور رسي، دبېوزلو او پرمختيايي هېوادونو په ګټه له نړيوال سوداګريز سازمان څخه دګټــې رسونې هيله نه شي کېدای،

ځکه دسوداګریز – پانګیزو اډانو رامنځته کېدل په ځانګړي توګه دهېوادو له لاسه دپریکړوابېستل او بهرني پانګوالي لاس ته دلېږدولو په موخه ترسره کېږی، سره له دې په هېواد کې نړیواله سوداګري کولای شي دوتیزې ودې او دلوړې دکچې په راتیتونه کې ګټور وي. مګر دکورنیو زېږتوکیو دپلویز و پلانونوله درلودلو پرته دهېواد وَرونو پرانېستنه دکورنیو زېږلوښیو دله منځه تلنې په مانا ده. دافغانستان آینده غورځنګ داسې ګروهه لري، په داسې حال کې چې کورنۍ سوداګري دځرنګوالي او څومره والي له پلوه دبهرنیو توکیو پر وړاندې درېدلای نه شي، دټولو کورنیو اوبهرنیو سوداګرو پروړاندې دیو شانته او ګډو پانګیزو او سوداګریزو سیاستونو پلي کول، یوې لګښتي (مصرفي ) ټولنې ته دهېوادله یومخیزې اړونې پرته بل څه نه شي کېدای.

دافغانستان دآینده غورځنګ په اند افغانستان ته دیوه وچغاړي (محاط به خشکه) هېواد په توګه دترانزیتي اسانتیاوو برابرونه (دترانزیتی لویو لارو جوړېدنه او پرکار لوېدنه اوله هېواد څخه دتېلو او ګازو د نللیکوتېرونه) ځانګړی ارزښت لري، دافغانستان اینده غورځنګ په دې تړاو د افغانستان د خلکو په ګټه دهېواد له جغرافیایي دریځ (موقعیت ) څخه داغېزمني ګټې اخېستنې ملا تړ کوي.

## ۳ – ټولنـــــــــــــــیزه برخه

دافغانستان پر وګړو باندې دهغو ګردو تېل شویو ټولنیزو بې نیاویو له منځه وړل دافغانستان دآینده غورځنګ ارمان دی. په افغاني ټولنه کې دېوړیزو، توکمیزو، نوږیزې (جنسي) اودیني مذهبي زور زیاتیوشتون چې افغانستان یې له ټولنیز پلوه دنړۍ ترټولو وروسته پاتو هېوادو په لړکې درولی دی، پراخ ټولنوټیز، سیاسي او اندیز اوړون (رستاخیز) ته اړتیالیدل کېږي، دافغانستان آینده غورځنګ به په دې ادلون بدلون کې خپله کره برخه ترسره کوي. داوسنیو ټولنیزو اړیکو په اړونه کې دټولنې دټولو اسکېرلواو ستم لاندو پوړونو ځانخبرې برخه اخېستنه رغښتیزه (اورګانیکه) آړ دی. دافغانستان آینده غورځنګ به ددې تاریخي – ټولنېزې غوښتنې په پلي کېدو کې خپل پراخ روښاندیز کار مخته بوځي .

دافغانستان آینده غورځنګ په خلکوکې دزړو، بېځایو او شاتګیو اېډ یالوژیوشتون دپر مختګ او ویښیاریې پروړاندې ستر خنډ بولي او په لېرې کولوکې یې دهېواد له روښاندي غورځنګ سره ملګری دی .

افغاني میرمنې دټولنیز ستم دروند پیټی تل پر اوږ وړي. د ظالمانه ټولنوټیزو اړیکو تر څنګ یې په کورنۍ کې هم دمینځې ځای درلودلی. دنړیوالو په اندافغاني مېرمن دیوې زور ځپلې (مظلومې) څېرې په توګه پېژندل شوې ده. په ټولنه کې دمېرمنو دبابېزه دریځ سماوی دافغانستان دآینده غورځنګ ددند و منځتکی جوړوي اودمېرمنو دګټو دملاتړ یو سازمانونو درغاونې په موخه هاندوهڅه کوي. ټولنیز ژوند په ټولو برخو کې له نارینه وو سره دښځو د یو برابر رښتو دخپلونې خوندیینه (تسجیل) دافغا نستان دکېن دېموکراتیک غورځنګ له ځانګړو دندو څخه دی. دافغانستان آینده غورځنګ زیار ګالي چې دغه برابرتیا دهېواد په بنسټیز قانون او نورو قانونونو کې روښانه وکښل شي او په کړن کې پلې شي.

افغاني ماشومان دنړۍ ترټولو بېوزله او مظلومترینه اوسېدونکي ګڼل کېږي. دوي دمړینې له

همېشني ګواښه پرته ، له بې کورۍ ، لوږې ، بې پوښاکۍ او  نالیک لوستۍ سره د ټولنیز ژوند ډګر ته ورګډېږي او له ناچارۍ نه دخورا ناڅیزه مزد په بدل کې پرکار بوختېږي. دافغانستان آینده غورځنګ به هڅه وکړي چې دماشومانو دګټو ساتنه او ملاتړ پر یوه  لوی ملي اودولتي پروګرام بدل شي. دافغانستان آینده غورځنګ به دماشومانو دژوند ښهاني په موخه نړیوالې مرستندویې اداري او سازمانونه را وهڅوي .

له روغتیایی او دمور ماشوم دساتنې له پلوه ، افغانستان ترټولو وروسته پاتو هېوادو په ډله کې دی. دولت دنده لري چې نوې اغېزمن نومهالی (مودرن) روغتیایي سیستم رامنځته او دټولنې دبېوزلو پوړونو وړیا درملنه  ترسره کړي. دافغانستان آینده غورځنګ دداسې یو روغتیایي نظام دجوړېدو په لارکې مبارزه کوي. دټولنې بېوزلو او هغوکسانو لپاره چې دټولنې څنګ ته ژوند کوي، دژوند دلومړنیو لړه کیو اړتیاوو سمبالنه او ژمندویي یو انساني دنده ده. دافغانستان آینده غورځنګ هڅه داده چې دغه دنده ژرترژره ددولت له خوا تر سره شي.

دافغانستان آینده غورځنګ په اند دملي وتېز پرله پېیلې پرمختیا او کارندویي پرمختګ، په کاربښودو برخو کې دملي اقتصاد پَخو کادرونو، کارپوهانو ، کارمندانو او کارګرانو له ځانخبري ګډون پرته ناشونی دی. دافغانستان آینده غورځنګ، ټولیز سېکتور (عامه سکتور) پورې داړوندو ټولنوټیزو یوونونو (اقتصاديي– اجتماعي واحدونو) په لار ښوونه کې به دپَخو ملي کادرونو، کارپوهانو او تکړه کارګرانو په ځانخبري ګډون کې خپلې ګردې شونتیاوې پرکاراچوي او دملي اقتصاد په سېکتورونو کې به دکارګرانو او کارمندانو په یوموټې کولو او سازمانولو او دهغوی دټولنیزې پوهې په لوړولو کې خپله اغېزمنه  برخه ترسره کاندې.

دکار وزېږ دخوندي آړونو برابرول، دکارساتنې اوخوندیینې دتخنیک دځانګړو اَرونو (نورمونو) په ګوته کول او جوتول، له کار څخه راپیداشویو رنځونو او ناروغیو پر وړاندې دکارګري خوندیینې (وقایې) او دزېږ او کار په بهیر کې دمنځته راتلونکو پېښو دکچې راټیټول دزیارکښانو بنسټیزې رښتې دي. دافغانستان آینده غورځنګ به له خپلو ګردولاسرسو شونتیاوو سره سم هڅه وکړي چې دکار و زېږ په منځیو(مرکزوکې) دکارساتنې او خوندیینې تخنیکي نورمونه او دویونه (مقررې) لاټینګتیا او پراختیا ومومي .

دافغانستان آینده غورځنګ دپرمختللي مزد او معاش دسېستمونو په رغولو ، دانساني ژوند دلګښتونو په پام سره دلړه کې مزد بریدټاکل ، دکارګرانو او نورو کارکوونکو دتوکیز او مانیز (مادي اومعنوي) ژوند دکچې پراختیا او پرمختیا لپاره به ټولنیزې سمبالتیاوې (تأمینات) وړاندې کول اودهېواد ګردو کاروړ او تکړه وګړو ته دغوره او خوندي کارځایونو اوانډولیزو کار رښتو درامنځته کولو لپاره په پر له پېیلې توګه هاندو هڅه کوي .

دافغانستان آینده غورځنګ دکارګرانو او نوروکارکوونکو ترمنځ دټولنیزواسانتیاوو داسې یوسېستم غوښتونکی دی چې په هغه کې دملي اقتصاد له ټینګښت او پرمختګ سره پټلیز دکارکوونکو مالي ونډه ورو ورو را ټیټه او له اسانتیاوویې کورنۍ هم برخمنې شي .

دافغانستان آینده غورځنګ دکارګرانو او کارکوونکو دکار دنیاومنواړیکو جوتتیا (تثبیت )، ټینګښت او اوډښت (تنظیم) لپاره دکارداسې وړنده او پرمختللي قانون دپلي کېدو (انفاذ) غوښتونکی دی چې

دملي اقتصاد په ټولو اړوندو سپکتورونو کې دکارکوونکو درښتو ټینګوونکی وي او غورځنګ به په همدغه لار کې خپلې هلې ځلې پرمخ وړي. دافغانستان آینده غورځنګ له پامه په کار ده چې دتېرودرولسیزو جګړو بلهاري شویو، اوماتو ګودو کورنی ددولت تر ساتنې لاندې راشي او په دې برخه کې ګټورې ټولنیز اسانتیاوې او څارونکې څانګې رامنځته شي .

## ۴- د اند وفرهنګ او روزنې برخې

دافغانستان آینده غورځنګ په دې اند دی چې ارتجاعي ایدیولوژی اوزړې اندتوګې او دودونه دافغاني ټولنې پرورانديې دېر مختګ او اوړون ستر خنډونه دي. دعلمي لیدلوریو او اندونو دودول او له ایډیالوژیکو، توکمپالنو، ژبپالنو، ملیتپالنو او نورو زړو انګېرنو څخه د دهېواد ستر روښاندیزو زېرمو ژغور ون دټولو کینې اړخو غورځنګونو له بنسټیزو دندو څخه دي؛ دافغانستان آینده غورځنګ  به په دې لارکې خپل لارښود او مخکښانه برخه تر سره کړي .

دافغانستان آینده غورځنګ له ټولو هغو آندیزو دستګاوو سره چې داوسنیورښتیاوو په کوشني کولو او ساده ښودلو سره راتلونکي لوی لار، پرآندیزو وړاندوینو مخ تر مخه انځور کړي، له بېخه پردی (بیګانه) دی. دافغانستان آینده غورځنګ، ارت، پراخ اوډول ډول آندیزلیدلوري دافغاني ټولنې د رښتینې دېمو کراتیکې  پرمختیا (رشد ) او پر مختګ یوه اړتیا ګڼي.

دافغانستان زېږځواکونه، په پرونیو ُورَستو او زوړاندیزو چوکاټونو کې، له اوسني نوي اکر سره دارږخ لګېدو (انطباق) له ډینامیزمه تشتور دي. ټولنه دنوښتونو پر انځور دهوکړې لپاره د زړو چوکاټونو دماتولو او دټولنې له اکر سره سم دنواندیزو مخبېلګو (الګو) جوړولو ته اړ دي. له خوځند (پویا )، علمي او دودیز ضد فرهنګ څخه په ګټه اخېستنه - چې  دنړۍ د پرمختیا پالو د اوړدو مبارزو بریا (محصول) ده - دخلکواندونوته په نرمښت مننه کې دمانیزفرهنګ نقش ځانګړی ارزښت اوویسا مومي. خو په ډېرې خو اشینۍ، دټولنې هغه فرهنګي برخه چې دزیارکښانو داوږدمهالوانکار نه منونکو هاندوهڅو د بریاوو پیلامه وه، او له سربښندنې، نوښتګرانه او انسان او ازادۍ ته له مینې ډک لوستونه ول، د کږنو انګېرنواو تر درانه پېټي لاندې ډوبه ډوبه سا اخلي. دافغاني ټولنې مانیز فرهنګ، په ځانګړي توګه دادبیاتو برخه له هېښندو نویو نوښتونو ډک ده، په زېږ برخه کې دغه نوښتونه په ځانګړو ټولنیزو دلیلونواو دواکمنې ایډیالوژۍ په کړو وړو سره دخلکو له ژوند سره اخښل شوی. دپرمختګ دنویو څنډونو (افقونو) پر لوري دټولنې په  ورسیخونه کې ددغه کوډګر ځواک له پامه غورځول، په رښتینه دټولنې ډېر ارزښتناک مانیز نوښت ته ارزښت نه ورکول او ارتجاع ته دیو ډېر اغېزمن پرمختګپالې شونتیا خوشې کول دي. دافغانستان په ادبي فرهنګ کې ښایسته او ښکلې، انساني او زړه راکښونکي توکي ډېر موندل کېږي. دافغانانو پر رښتو او انساني کرامت باندې دبلوسګرو پر وړاندې دټینګار (مقاومت) او جګړوځلاندو کارناموغبرګون ترڅنګ دازادۍ ګرانښت، درواغودرغلیو غندنه او دانسانیت ستاینه څېې وهي چې تل دپرمختګ ضد بنداړونو او جوړښتونو له خوا یا په بل ډول اړول شوي او یاهم په چوپه خوله یې بدرګه شوي ،په هغه عرفان کې چې دواکمنانو له خوا دخانقا ووزندانو نو ته لېږدول شوي، هم ټولنې ته دهغوی مخکښو ادبي ویناوالو په پېژندلو سره د ځان کمینۍ (خود کم بیني ) ولولې غوټه، چې په ټولنه کې دډېرو ناخوالو لامل دی هم پرانېستل شي او پر ژبپالو، توکمپالو اوداسې نورو شخړ و باندې به چلیپاوکښل شي. دداسې فرهنګي توکیو (عناصر) دودَول د ټولنې دجهل پالو دنده

نه ده ، ددې پېټي چلول په هغوځواکونو اړه لري چې دروښاندۍ پر پرېکړه لیک یې دژمنې ګوته ایښې ده. دافغانستان آینده غورځنګ دهېواد بډای فرهنګ په دودَولو کې په پرله پیېلې توګه هاندو هڅه کوي .

دسپکو او بې خوندو رسنیو پراختیا او ور پورې د تړلې دشکلي دېموکراسۍ ننداري، دفرهنګ له پاره ستر ګواښ له ځانه سره لري، بهرنیو ځواکونو او شاتګپالو سازمانونو او ګوندونو اړوند تېلویژیونو پراختیا دارتجاع او ابپریالیزم دځواک دلاتینګښت لپاره څېرمه لوښي (وسیلې ) دي، رښتینی دېموکراتیکې او پرګنیزې خپرنی (مطبوعات) رامنځته کېدل دهېواد کېنې او پرمختللي غورځنګ بېړندویه اړینتیا ده. دافغانستان آینده غورځنګ په دې لارکې په هاندو هڅه به له نورو کینواو دېموکراتیکو جوړښتونو سره د دېموکراسۍ او پرمختګ په ګټه دوَړندو خبرتیایي (لازمو اطلاعاتي) وسیلو لټون وکړي .

نالیکلوستي ورَکـَول او له نړیوالو پوهنیزو نورمونو سره سم دهېواد ځوانانو ته دلوړوښوونو سمبالتیا د دېموکراتیک او پرمختللي فرهنګ او ټولنیز پرمختګ مخاَړ (پیش شرط) دي اودافغانستان آینده غورځنګ یې دمنځته راوړنې لپاره جنګېږي. دافغاني ټولنې دلیدوَړو رښتیاوو (عیني واقعیتونو) پر بنسټ، اودهېواد دټوکمیزو او سیاسي آرونو په پام سره، دافغانستان آینده غورځنګ دنو رو هېوادو له ازمېښتوڅخه په ګټه اخېستنه، دافغانستان ملي ربړو ( مسئلو) په اړه لاندې آرونه وړاندې کوي :

طبیعي خپلواکي دخلکو رښته ده، د دې رښتې مخنیوی اوپر وړاندې یې تر هر نامه لاندې هر ډول چالچلند یو نا بشري چلند دی او زور واک (جابران) دبشر دربښتو پر خلاف دي. په افغانستان کې ورونه توکمونه او ټبرونه، داربښته لري چې دخپلو ژبو، فرهنګ، او نورو پېژندیزو (هویتي) ځانګړتیاوو د ودې لپاره هاندې هڅې وکړي .

دافغانستان آینده غورځنګ له پرمختللو نړیوالو فرهنګونو سره دافغاني ټولنې دفرهنګ په نښلونه کې به هاندو هڅه وکړي. دنړیوالېدونکي پانګوالي فرهنګ پر وړاندې ددېموکراتیک فرهنګ نړیوالول ، دافغاني کینې ځواک د دندو یوه برخه ده. دافغانستان آینده غورځنګ به یې په پر له پیېلې توګه د لار هواري لپاره جنګېږي .

## ۵ـ دنړیوالو اړیکو په برخه کې

دافغانستان آینده غورځنګ په دې آند دی چې دابمپریالېزم او نړیوالې شاتګپالۍ د سیاسي – ایدیولوژیکود دریځونو (مواضع) شاته تمبول یوازې دپرګنو اوددوی مخکښو سیاسي – ټولنیزو ځواکونو په نړیوال پیوستو ن تر سره کېدای شي. دافغانستان آینده غورځنګ دپانګوالۍ نړیوالېدو دتالانګر پېر او ابمپریالېزم د بلوسګرۍ (تاخت وتاز) پروړاندې دزیارګالونکو نړیوال پیوستو ن د ټینګاو (مقاومت) یوازینی ژمندوی بولي، او دنړۍ دزیارکښانو دګټو ننګه او ملاتړ دغورځنګ د نړیوال سیاست زرین او ټینګ و تړینګ آر ګڼي .

دافغانستان آینده غورځنګ دسولې او ټولنیزې انډولتیا دټینګښت لپاره دکینو او دېمو کرا تیکو سوله پالو اوپرمختګ پالو ډلو ټپلو او ګوندونو دربښتینې مبارزې هر اړخیز او ټینګ ملاتړ کوی .

دافغانستان آینده غورځنګ ګروهن دی چې په یوه نوې نړیواله ټولنه کې چې له ټولو کینو دېموکراتیکو سازمانونو اودزیارکښانو او د دوی سیاسي – ټولنیزو جوړښتونوله پیوستونه رامنځته شوی وي ، یوځوا دپانګوالۍ د بشپړ (مطلق) ځواک پر وړاندې دخلکو مبارزې ګټوروي او بلخوا به سوله پال ځواکونه دامپریالیزم جګړه ییزو کړووړ پروړاندې یوموټی کوي. .

دافغانستان آینده غورځنګ به دداسې ټولنې په رامنځته راوستوکې خپله غوښه برخه تر سره کوي . دافغانستان آینده غورځنګ ډاډمن دی چې دداسې نوښتګر پیوستون رامنځته کېدل له خپلو رغندو توکو، سیاسي، اندیز او سازماني خپلواکیو سره بډ (مغایر) نه دي. دافغانستان آینده غورځنګ دخپلواکۍ ټینګ پلوی دی او په نړیوالو ټولنو کې به د خپل رغښتیزې او پېژندیزې اډانې په خوندیینه ګډون کوي.

دافغانستان آینده غورځنګ له کارګري غورځنګونو، دجګړې او تاوتریخوالي ضد غورځنګونو، دښځمنو غورځنګونو، چاپېریال ساتنې پلویانو او نورو دېموکراتیکو او نیاوپالو غورځنګونو ملاتړ او په غونډو کې یې ګډون کوي .

دافغانستان آینده غورځنګ د بشر د نړیوالې اعلامیې دکښل شویوعلمي ارزښتونواو نورو نړیوالو ژمنلیکونو او تړونونو (کنوانسیونونو) د پلي کېدلو په لاره کې مبارزه کوي چې افغانستان ورسره دپیوستون اعلام کړی ، او له دغو ارزښتونو او ژمنو څخه سر غړونې او تېر وتنې به په ډاګیزوي. دافغانستان آینده غورځنګ غواړي چې د ګاونډیو اونړیوالو هېوادونو خپلمنځې ربړې له سوله ییز او سیاسي لارې، له یوځي ځواک کارونې پرته هوارې شي .

دافغانستان آینده غورځنګ دجګړې او تاوتریخوالي پرضد اودنړۍ او سیمې دسولې ټینګ پلوي په توګه د هغوګردو هاندو هڅو ملاتړ کوي چې دسولې او امنیت درامنځته کولو لپاره ترسره کېږي او له ټولو جګړو ضد غورځنګونو سره پکې دخپل پیوستون په ډاګیزونه کارنده برخه اخلي .

په افغانستان او ګاونډیو هېوادونو کې دمنځنیو پېړیو شاتګپال ځواک تر دې بریده دی چې دسیمې دخلکوله ملاتړ او د پرمختللو دېموکراتیکو ځواکونو دپیوستو ن اوسیمه ییزې ټولنې له درلودنې پرته به ونه شو کړای چې په نوموړو هېوادونو کې په همښنۍ او نه شا تلونکي ډول ادلون بدلون تر سره شي. دافغانستان آینده غورځنګ د زیارکښانو دنړیوال پیوستون په چوکاټ کې دزیارکښانو یوې سیمه ییزې ځواکمنې ټولنې جوړیدا لپاره هاندو هڅه کوي چې له دېموکراتیکو او پرمختللو سازمانونو څخه رامنځته شوې وي. دافغانستان آینده غورځنګ ګروهه لري چې دپرله پېیلې سولې دټینګښت په موخه دترهګرۍ، تاوتریخوالي او بنسټپالنې پروړاندې ددېموکراتیکو ځواکونو کارنده همغاړي به دسیمې په سوله او ټیکاو کې مرسته وکړي .

دنړۍ اوسنی ویجاړ اکر، له تباهۍ څخه دبشر دژغورنې لپاره دټولو پرګنو پروړاندې ستري پاړې ایښې دي . دافغانستان خلک دوسمهالې نړۍ ترټولو ځوربدلي خلک دي چې په هېوادونو کې د سولې ، پرمختګ، وروسته پاتوالي او لوږې له منځه وړلولپاره دیونوي نړیوال نظام په رغاونه کې دګډون کلک غوښتونکی دی. افغاني دېموکراتیک ځواکونه دنده لري چې دافغانستان دپرګنو ربښتینې غوښتنې نړیوالو ته ورسوي، او دهغوی ژور سوله پال او بشر پال دریځونه (مواضع) په ډاګه کړي چې د بنسټ پالو له هغو سره بډوالی (مغایرت) لري.

## څلورم – دمبارزې لارې او ډولونه

دافغانستان آینده غورځنګ به په بېلابېلو برخو کې دټولنیز اوړون ستراتیژیک سترګ ارت (چشم انداز) پر بنسټ خپلې کارندویۍ ته لوری ورکوي. دافغانستان آینده غورځنګ پوهېږي چې دوروستۍ موخې پلي کېدل یانې له زبېښاک او استبداد څخه دافغاني ټولنې ژغورون، د پراخو، پرله پېیلو او هرارخیزو مبارزو غوښتونکی دی. دافغانستان آینده غورځنګ د هغوټولو سمونونو ملاتړ کوي چې په ټولنوټیز، سیاسي او فرهنګي برخو کې دخلکو د ښهاني او ولسواک غورځنګ پرمختګ رامنځته کړي او یو لاغوره ټولنوټیزنظام ته درسېدو واټن را لنډ کاندې. دافغانستان آینده غورځنګ له « انقلابي لنډغریو (ماجراجوییو) او ذهنیګرۍ (سوبژکتویزم) سره نابانډې دی .

دافغانستان دآینده غورځنګ په اند سیاسي – ټولنیز ترینګلتیا د اقتصادي ترینګلتیا څرګندویه نښه ده! دتاریخ په بهیر کې د بدلون پالو ځواکونو پرګنیز خوځښتونه او وسله وال مقاومتونه، دزور واکانو، مستبدو واکمنانو اود ترینګلتیا پروړاندې لنډ مهالي او تېرېدونکي غبرګونونه ول. دافغانستان آینده غورځنګ په پر له پېیلې توګه غوره ګڼي چې دافغانستان دزیارکښانو غوښتنې دې له سوله ییزو لارو او پر انساني پراخو پوړونو په ډېره لګونه تر سره شي .

دافغانستان آینده غورځنګ به دخپلو ستراتیژیکو موخو لپاره د زیار کښانو ویښوول او یو موټې کول تاریخي لار ګڼي، سیاسي او ټولنوټیزو غوښتنو دتر لاسه کولو لپاره دپر مختللو ټولنیزو او ټولګیزو(صنفي) سازمانونو جوړول وهڅوي .

غورځنګ دخپلو لرموخو دترلاسه کولو پر لوري دخپل خوځښت په هر پړاو کې، دټولنې دنومېرلي (مشخص) اکر او ځواک انډول په پام سره، ددې کړنلارې له غوښتنو او متن سره سم کېدونکي او ځانګړي پروګرامونه جوړوي، او دپلي کولو په لارکې یې جنګېږي . دافغانستان آینده غورځنګ به له ټلوالو (ایتلافونو)، ټولنو اونورو اوړونپالو ځواکونو سره سیاسي بلاکونه، ټلوالې او ټولنې جوړول دخپلو موخو دپلي کولو لپاره اغیزمن ګڼي او ددغو ځواکونو دیو موټي کېدوپرلوري مبارزه کوي .